# سرليک

د مهاجرتونو اغيز په ژبه باندې :څرګنده خبره ده چې په افغانستان د وروسيي يرغل څخه راوروسته تقريبا د ۱۵ـ تر ۲۰ ميلونه پورې افغانان له خپل ټاټوبي څخه ګاونډي هيوادونو ته لکه ايران او پاکستان ته په کډه کولو مجبوره شو له کافي مودي مهاجرت په سبب چې نيږدی يو نسل وګړي د کوربه هيوادونو کلتور او ژبو سره خپل کلتور او ژبه واغږله له سوداګريز، زده کړايز، لوبه ايزه، کاروباري،اداري او سياسي زيات شمير وييونه يي د نور ژبو او ګړنو څخه اغيزمن شو، او د ورځنی ژوندانه د اړتياوو په بڼه يې راخپل کړه، همدا ډول څه د پاکستان د اردو او د انګليسي ژبو ګړني او څه د ايران د فارسي ژبې ګړنې يي د پښتو په سوچه ګړدود کې ورننوتې.

که څه هم له پخوا راهيسې زمونږ جوماتونه، مدرسې او ښونځي د سعدي صيب اشعارو نيولي و او دا شان دري او فارسي او نورو ادبياتو اشعارپکی د نصاب برخه وه لکه پنج ګنج ، ګلستان او بوستان او داسی نور چی دغه چاره د فارسي فرهنګ د يرغل ،د ښې ښه ثبوت دی پداسي حال کې چې مونږ د خوږې پښتو ژبې د يوغني ادب څښتنان وو لکه د خوشحال خان خټک بابا، رحمان بابا، امير کرور او نور ډير پښتانه اديبان چې ډير زيات اثاريې په ميراث راپاتي دي خو بد بختانه د نصاب برخه نه وه او نه ورته د چا پام و.

بنستیزه سوژه (موضوع) چې د مهاجرت اغیزي په ژبه باندي څه دي: هغه ګړنې چې په خپل کاله افغانستان کې وګړو درلودې چې هغه ترې یو شمیر ګډې وډې شوې او هغه چې وایي (چې اوسې په خوي به د هغوشې) چې یو ژوندی مثال یې زموږ هغه تبلیغیان ورونه چې په پاکستان کې یې وخت لګولی وو د هغوي یو مشهور نقل قول چې وایي (جوړ به راوولو او توړ به نه راولو) چې توړ د کسر یا ماتېدو په معنی دی چې افغانستان کې هیڅ بیلګه نه لري د اردو لغت (تهوڑ) چې تر اوسه زموږ د پښتنو تبلیغیانو نظري زده کړه ده او دلته په معنایزه موخه استعمالیږي.

او داسې نوري ډیرې بیلګې شته د لنډون لپاره به نورې شننې ته اړتیا نه وي مګر د ستوري د خپرونې پیغام تعصبي نه بلکي په حقوقي ډول چې کومو وګړو ته د کومې ګړنې اړتیا ده پکار ده چې بله ګړنه یا ګړدود پري وربار نه شي دا به انصاف وي، همدا شان د پردو ژبو ګډوله کې د پوهیدو او راپوهیدو تمعه داسې ده لکه د د غنمو، جوارو اوربشو یو ګډولې ته چې د یو جنس نوم واخلې، تاسو به زموږ د کوزي پښتونخوا د ورونو د پښتو ګړنه په رسنیو کې اوریدلې او لیدلې وي چې څومره پکې پښتو او څومره ورپکې انګلیسي او اردو کارول کیږي د ستوري غوښتنه ده چې لوبه ا یز، سوداګریز او ټولنیز ، اداري او سیاسي وییونه پخپله پښتو ژبه وکاروئ د یو ویي د نه موندلو په صورت کې مستعار وییونه کارول جایز دي د دغې چارې په نظر کې نیول به مو خوږه ژبه پښتو له مړینې وژغوري او هم به مو د نوښتونو او پرمختګونو لامـــــل شي، ځکه چې په نورو ژبو کې د پوهیدو را پوهیدو کیفیت به مو په زده کړیزو چارو کې پرمختګ ستونزمن کړي . د شونتیا تر کچې پکار ده چې سوچه پښتـــو وکاروئ او خــــــــــــپل راتلونکي نسلونو ته سوچه ژبه په میراث پریږدئ په درښښت

اداره

# امن
# یو لوی نعمت دی

الشیخ منیب الله (رحمتی)




قدرمنو لوستونکو امن او امان لوي نعمت دی ځکه چې کله معاشره په امن وي نو د هغې اوسیدونکي په اطمنان ژوند تیره وی لوي واړه نارینه او زنانه غریب او مالداره ټول خوشحاله وی کوم خوف او ویره نه وي د معاشرې هر وګړی د خپل مال او ناموس په باره کی بی شک وي د یعنی اندیښمن نه وي او که معاشره کې امن نه وي نو هلته ځانونه او مالونه محفوظ نه وي بیا عزتونه پیمالیږي د ورځې یا د شپې په تیاره کې د ټوپک او اسلحې په زور د خلکو مالونه اخستل کیږي عزت د خلکو لوټ کیږي حتي خلک عبادت او بندګي په صحیح ډول نشي ترسره کولې.

همدغه وجه ده چې کله د ابراهیم علیه السلام خپل اهل عیال په داسی حال کي پریښودل چي هلته شنکی او اوبه نه وی چې ( مکه مکرمه وه ) نو ابراهیم علیه السلام دعا وکړه (وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلاً ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَى عَذَابِ النَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ) ژباړه او کله چې وویل ابراهیم علیه السلام ربه وګرځوه دا ښار د امن او زرق ورکړه او اوسیدونکو دوی ته تاسی فکر وکړی ابراهیم علیه السلام اول د امن سوال وکړه وروسته بیا د رزق سوال کوی معلومیږی چې کله امن وی د خلکو ژوند کې اسانتیا راځي

تجارت او نورو کارونو ته زمینه مساعده وي خلک خوشحاله وي او د خپل اینده په باره کې د پرمختګ او بریالیتوب سوچ کوي ددي یوه بلیګه زمونږه او ستاسی په وړاندې د قوشتیپې کانال دی چي حیاتي او ملي پروژه ده چي په سرته رسولو به یي افغانستان په خپل ځان بسیا پیدا کړی داچی امنیت برقرار دی نو دغه دی چې ۱۰۰ کیلو متره یعنی اول پاز بشپړ شوه اوپه نیږدې وخت کي به دغه حیاتي پروژه تر خپل ټاکلي حده ورسیږي.

راځو خپلی موضوع ته رب العزت چي مکې والو ته نعمتونه ذکر کوي نو یو پکې امن هم ذکر شوی رب العزت فرمایلي

( ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ )

ژباړه بنده ګی دی وکړی د رب ددی کور هغه رب چي دوی ته یې خواړه وکړی د ولږې نه او امن یي ورکړی د ویرې څخه

قدرمنو لوستونکو نن چې د عالم اسلام په ګڼو هېوادونو کې قتل عام دی هره ورځ بمي چاودني او نور واقعات مخي ته راځي پکی ډیر بی ګناه انسان وژل کیږي خلکو ته مالي تاوان رسیږي مسجداو جناز ګاه محفوظه نه ده هر طرف ته د غم ویرجن چاپیریال دی بنستیز لامل یې نا امني ده

د امن په اهمیت به په را روانه ګڼه کې که ژوند وو لیکنه وکړو

والسلام علیکم ورحمة الله

# حفظ الصحه / Hygiene

لیکنه او راټولونه: شاهد الله (حکاک)

شخصي نظافت او د چاپيريال پاک ساتل د ساري نارغيو د وقايي او مخنيوي لپاره چې د هغه منشا اوبه او محيط وي عبارت د حفظ الصحې څخه دی.

خداي ج په کلام پاک کي خپلو بندگانوته فرمايلي: ان الله يحب التوا بين ويحب المتطهرين. ترجمه: په تحقيق سره الله ج توبه ويستونکې او پاکان خوښوي. همدارنگه په بل ځای کې فرمايې: په دې (مسجد قبا کې) داسې خلک شته چې پاکي او نظافت ډير خوښوي او الله (ج) د پاکو او نظيفو کسانو سره محبت کوي. ( التوبه:۱۰۸) حضرت محمد ص فرمايي: الطهورشطرالايمان. ترجمه: پاکوالي دايمان برخه ده .

**حفظ الصحه په دوه ډوله ده:**

.1 محيطې حفظ الصحه 2. شخصي حفظ الصحه

.1 محيطې حفظ الصحه :

محيطی حفظ الصحه په دوه ډوله ده:

.1د کور پاک ساتل 2. د چاپيريال پاک ساتل


د کور د حويلی، د اوسيدو د کوټو، د اوبو د ځای او تشناب پاک ساتل د کور د پاکوالې څخه عبارت دی

مثلا :د کثافاتو ځای پرځای کول

•د حشراتو مخنيوی

•د اوبو د ډنډونو له منځه وړل

•د اشپزخانې پاک ساتل



• د تشناب پاک ساتل

• د چاپيريال پاک ساتل

د غايطه موادو، مايع او جامدو کثافاتو په خوندي توگه له منځه وړل عبارت د چاپيريال د پاک ساتنې څخه دی

يا په بل ډول: هغه پروسه ده چې خلك په کې د اوبو او فاضله موادو سره دتړلو ناروغيو د خپرېدو په لاره کې خنډونه رامنځته کوي او خلك خپل چاپيريال پاک ساتي . (د يونيسيف تعريف)

مثلا: •د ولاړو اوبو له منځه وړل
•د انسانې او حيوانې د فضله موادو اداره کول
•د کثافاتو خوندي کول
•د مضرو حشراتو له منځه وړل
•د ونو او بوټو اصلاح کول
د اسلام له نظره د محيط پاکوالی

•رسول الله ص فرمايلي: تاسې خپل محيط پاک کړئ ځکه يهود خپل محيط نه پاکوي. (المعجم الکبير للطبراني)

•له صالح بن ابی حسان څخه روايت دی چې ما له حضرت سعيد بن مسيت رحمه الله څخه واوريدل چې فرمايل يې بېشکه الله (ج) پاک دی پاکي ښه گڼي، سپېڅلی دی

سپېڅلتوب ښه ګڼي، سخي دی سخاوت ښه ګڼي،کريم دی کرم ښه ګڼي، نو تاسې خپل محيط (چاپيريال) پاک کړئ په چټلې کې د يهودو په شان مه کيږئ. (سنن الترمذي)

•حضرت ابو هريره رض وايي چې رسول الله ص فرمايلي تاسې د دوه کارونو ځان وساتئ چې د لعنت سبب ګرځي، صحابوو پوښتنه وکړه يا رسول الله هغه دوه کارونه کوم دي؟ رسول الله ص وفرمايل د خلکو په لارو او سيورو کې قضاى حاجت کول. ( يعني په دواړو ځايونو کې قضاى حاجت د لعنت سبب ګرځي)( صحيح مسلم)

پاک محيط، پاکه سيمه او پاک ښار دا مانا لري چې د دې امت فکر، کار، اخلاق او ټول کړه وړه پاک او ستره دي

شخصي حفظ الصحه

د بدن د پاکوالي او روغتيا ساتنه د شخصي حفظ الصحې څخه عبارت ده

مثلا:

•د بدن مينځل

•د جامو پاک ساتل

•لاس مينځل

•د ويښتانو مينځل

•د غاښونو مينځل

•د سترګو پاکوالى

•د غوږونو پاک ساتل

•د پښو پاک او پټ ساتل

•د نوکانو او اضافه ويښتانو کمول

د اسلام له نظره شخصي حفظ الصحه:د اسلامي شريعت له نظره په اسلام کې پاکوالي له اخلاص او پاک لمنې سره برابر دی .

په قرآن مجيد کې تر ديرش ځايه ډير د پاکوالي په هکله اشاره شوې ده او همدارنګه رسول الله ص په خپل امت باندی د پاکوالي تاکيد کړې دی.

انَّ اَلاِسْلاَمَ نَظِيْفٌ فَتَنَظَّفُوْا فَاِنَّهٗ لاَيَدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلاَّنَظِيْفٌ.

ترجمه: په تحقيق سره اسلام پاک دی نو پاک اووسې بيشکه ناپاکه خلک جنت ته نشي داخليدای مګر پاک او نظيف اشخاص .

•له عبدالله صنابحي څخه روايت دی چې رسول الله ص وفرمايل: کله چې يو مؤمن بنده اودس کوي او خوله ووينځي نو د هغه د خولې څخه ګناه وځي او کله چه پزه پاکه کړي د پزې څخه يې ګناه پاکه شې او کله چه مخ پريمينځي نو د مخ څخه يی ګناه تويه شې تر دې چه د ښو لاندې ګناه يې هم وځي او کله چې لاسونه ووينځي نو د لاسونو څخه يی ګناه لرې کيږې تر دې چه د نوکانو لاندې ګناه يې هم وځي او کله چې پښې پريمينځې نو د پښو څخه يې ګناه تويږي ان تر دې چې د پښو د نوکانو لاندې يی کوم ګناهونه وي هغه هم خارجيږي. (سنن النسائی)

•له حضرت بي بي عايشې رض څخه روايت دی چې رسول الله ص فرمايلي چه لس کارونه فطري دي چې هر انسان يی بايد عملي کړي

۱، د بریتونو کمول.

۲، د ږیرې پرېښودل.

۳، مسواک وهل.

۴، پزې ته اوبه اچول او پاکول.

۵، د نوکانو کمول.

٦، د مفاصلو (بندونو) پرېمینځل.

۷، د تخرګونو پاکول .

۸، د نامه لاندې وېښتانو پاکول. ۹، د استنجا کول.

۱۰، د خولې پاکول. (صحیح مسلم)

•له حضرت ابو هریره رض څخه روایت دی چې رسول الله ص فرمایلي: چې فطري شیان پنځه دي:

۱، ختنه کول (سنت ګیري). ۲، د نامه لاندې وېښتانو کمول. ۳، د نوکانو کمول. ۴، د تخرګونو د وېښتانو پاکول. ۵، د بریتونو کمول. (صحیح البخاري)

•حضرت عبدالله بن عباس رض د قران کریم د دې ایت

[ و اذابتلی ابرهیم ربه بکلمات فاتمهن] په تفسیر کې دارنګه فرمایلي: الله ج ابراهیم په پاکۍ او نظافت باندې امتحان کړ چې د هغو پنځه په سر او پنځه نور یې په بدن پوري اړه لري.

الف: هغه پنځه شیان چې سر پورې اړه لري:

د بریتونو کمول، د خولې پاکول، د پزې پاکول، مسواک وهل، او د سر د وېښتانو کمول.

ب: هغه پنځه چې بدن پوري اړه لرې:

د نوکانو کمول، د نامه لاندې وېښتانو کمول، ختنه (سنت ګیري) کول، د تخرګونو د وېښتانو پاکول، وروسته له قضایی حاجت څخه په اوبو سره استنجا کول

د لاسونو پریمنځل

زمونږ لاسونه تل د هر شي سره په تماس کې وي نو لازمه ده چې خپل لاسونه پاک وساتو ځکه د مکروبونو په انتقال کې مهم رول لري .

مثلا:

•د خوړو د تیارولو مخکې

•د غذا د خوړلو څخه مخکې او وروسته

•د رفع حاجت څخه وروسته

•د ځارویو او ناپاکه شیانو سره د تماس وروسته

•د کور د کارونو څخه وروسته

•د ماشوم د پاکولو څخه وروسته

د لاس مینځلو وختونه

**د لاس میځلو اهمیت د اسلام له نظره**

د اسلام مبارک دین د لاس مینځلو ته خاص ترغیب ورکړی لکه:

•په قران کریم کې د اودس کولو په وخت کې د لاس مینځل تر څنګلو پورې فرض او تر مړوندونو سنت عمل دی چې مسلمانان پري مکلف شوي دي

پوهیالی لومړی څارن اصلاح الدین سالارزی

# د قرانکریم او نبوی احادیثو په رڼا کې د وطن سره مینه کول

لنډیز

د وطن سره مینه کول د انسان فطري غریزه ده، هر انسان خپل وطن سره مینه لري او په کي ژوند تیرولو باندې خوښ وي، چې دغه کار په اسلام کی ثابت دی، د دې د ثبوت په اړه په قرآنکریم آحادیثو کې ډیر دلائل شته، د وطن مینه باید د دین او تعلیم په عاملو، د وطن د ساتنې، وطنوالو ته خدمت کولو سره ثابته کړو، دا چې زمونږ ټولنه په علمي ډګر کی وروسته پاتي ده، د نورو مسائلو په څیر مو هېوادول په دې برخه کې هم افراط کوي، څینې د وطن مینه د ایمان برخه ګڼي، خو څینې نور بیا د وطن سره مینه نشنلستي ګڼي، دغه دواړه نظرونه د اسلام خلاف دي، په دی اساس د موضوع د ثبوت لپاره آیاتونه او آحادیث ذکر شوي.

کلیدي کلمې: قرآنکریم، آحادیث، انسان، غریزه، فطرت، مینه، وطن

سریزه

د انسانانو په فطرت کې نغښتي ده چې دوي د خپل وطن او هغې خاورې سره ډیره مینه لري، په کومه کې چې پیدا شوی، خاپوړې یې کړې، له هوا، اوبو، خوړو او نورو الهي نعمتونو یې ګټه اخیستې وي په هغې ځای کې په ژوند کولو سره ارام او خوشحاله وي، دا چې اسلامي شریعت هم د انساني فطرت برابر دین دی، ټول هغه شیان چې د انسان فطرت پورې اړه ولري او ګټور وي هغه یې روا کړي، د وطن د مینې په بهانه به د اسلامي شعایرو او مسلمانانو سپکاوې نه کیږي، دغه مینه به د مسلمانانو سره د تعصب او دښمنۍ سبب نه وي، بلکې د خپل وطن سره مینه او د هیوادوالو لپاره خدمت

کول باید د اسلامي شریعت مطابق وي، دغه مینه یوازی په شعارونو، وینا او چیغو باندې نه ثابتیږي، بلکي د وطن د مینې د ثبوت لپاره په خپلو خبرو باندې عمل کول ډیر ضروري دي، د وطن مینه باید په وطن کې د اسلامي تعلیم په عاملو، د وطن د ساتنې، وطنوالو ته په خدمت کولو ثابت کړو.

د محبت(مینې) پیژندنه

لغوي پیژندنه: محبة عربي لفظ دی، د (حُبٌّ) څخه اخیستل شوی، د بغض ضد دی مینې ته ویل کیږي، (الافریقی،۱۴۱۴ هـ)، او محبت خوشحالونکي شي ته میلان کول دي (النجار).

اصطلاحي پیژندنه: امام راغب اصفحاني رحمه الله ویلي: ( المحبَّة: ارادة ما تراه آو تظنّه خیرا) محبت هغه شي ته میلان کول چې ته یې ګورې او ته پرې خوشحالیږې

## د وطن پېژندنه:

الف. لغوي پېژندنه: وطن عربي لفظ دی، زمونږ په ټولنه کې په هیواد او وطن دواړو سره شهرت لري، وطن د انسان د اوسیدلو ځای ته ویل کیږي(الهروی،۲۰۰۱م).

ب. اصطلاحي پیژندنه: علامه ابو البقاء الحنفي رحمه الله وطن په دری ډوله کړی:

۱. وطن الاصلي: چی دیته اهلي او فطري وطن هم ویل کیږي، دا هغه وطن دی چې انسان پکې پیدا شوی او لوی شوی وي.

۲. وطن الاقامة: دا هغه ښار او قریي ته ویل کیږي، چې څوک په کې مسافر نه وي، او د پنځلس ورځو او یا له دې څخه د زیات وخت د اوسیدو نیت ولري.

۳. وطن السکني: دا هغه ځای ته ویل کیږي، چې مسافر پکې د پنځلس ورځو څخه د کم وخت د اوسیدو نیت ولري.

د وطن سره مینه : د خپل وطن سره مینه فطري عمل او په اسلامي شریعت کې روا کار دی، خو په اسلامی ټولنه کې د وطن سره د مینې په اړه جلا جلا نظرونه موجود دي، په دې کې دوه نظرونه داسې دي چې له یو بل سره مخالف دي او افراط (زیاتی) په کې موجود دی، خو دریم نظر معتدل او د شریعت سره برابر دی، دغه نظرونه په لاندې توګه دي:

لومړی نظر: ځیني خلک د وطن سره مینه د ایمان برخه ګني، وطن د مور سره مشابه کوي، دوي په خپل دغه نظر کې دومره زیاتی کوي، چې څوک د دوي له فکر سره مخالف وي په ډول ډول نومونو یې یادوي، د وطن سره په خیانت یې تورنوي، دوي د خپل نظر د ثبوت لپاره په دغه وینا چې نبي صلی الله علیه وسلم ته یې منسوب شوی استدلال کوي: حُبُّ الْوَطَنِ مِنَ الایمَانِ په داسې حال کې چې د دې حدیث په اړه علماء بیلابیل نظرونه لري لکه؛ امام حسین بن محمد الصغاني رحمه الله وایي: دا موضوعي حدیث دی(له ځان څخه جوړ شوی هیڅ اصل نه لري (الصغاني، ۱۴۰۵هـ)، امام سخاوي رحمه الله ویلي: دغه حدیث نه پیژنم، خو معنی یې صحیح ده، ملا علي قاري د امام منوفي رحمهما الله قول نقل کړي، چې هغه په دې باندې رد کړی او داسې یې ویلي: څوک چې د دې حدیث د صحت دعوه کوي دا عجیبه ده، ځکه د ایمان او د وطن د مینې ترمنځ هیڅ مناسبت نه شته، او دلیل کې یې دا آیت مبارک راوړی: وَلَوْ أَنَّا كتبنَاعَلَيْهِم(النساء، ٦٦) ( یعنې که مونږ هغو ته حکم کړی وای)، له دې څخه مقصد منافقان دي، دوي د خپل وطن سره مینه کوله، خو ایمان یې نه درلوده، علامه الباني رحمه الله ویلي: دغه حدیث موضوعي دی او معنی یې هم صحیح نه ده، ځکه د وطن سره مینه د انسان فطري غریزه ده، دا مینه داسې ده لکه چې خپل ځان او مال سره مینه کوي، دغه مینه د ایمان سره کوم تړاو نه لري، ځکه په دغه مینه کې ټول انسانان شریک دي، په دې مینه کې د مسلمانانو او کافرانو توپیر نشته.

ملا علي قاري رحمه الله په بل ځای کې ویلي: که د دې حدیث معنی صحیح هم شي نو مراد د وطن څخه جنت دی، ځکه هغه د ادم(ع) لومړنی مسکن دی، یا له دې څخه مراد مکه مکرمه او د مسلمانانو قبله ده، یا له دې نه مقصد مشهور وطن دی، خو په دې شرط د وطن مینه د هیوادوالو، غریبانو او یتیمانو سره صله رحمۍ او ښیګڼه کول وي.

دوهم نظر: ځیني نور وایې: د وطن سره مینه د اسلامي امت د اختلاف او ټوټه ټوټه کیدلو سبب او د دوي په وړاندې دسیسه ده، نبي صلی الله علیه وسلم څخه چې د مکې او مدینې سره محبت په اړه کوم احادیث ثابت دي، هغه خاص دي همدغه ځایونو پورې ځکه د الله تعالی په نیز محترم ځایونه دي، نور وطنونه په دې باندې نه شي قیاس کیدلی، په دې اړه یوسف بن جودة الداودي د یو حدیث په فوایدو کې لیکلي دي، ځینې ناپوهان وایي: چې دغه حدیث د وطن سره په محبت کولو باندې دلیل دی، خو د دې حدیث څخه د دوي خبره نه ثابتیږي، ځکه

گمان کوی، دا په درې ډوله ده:

1 . د لذت محبت: لکه ښځې سره د سړي محبت.
2 . د فايدې محبت: لکه د هغه شي سره محبت چې فايده ترې اخيستل کيږي.
3 . د فضيلت محبت: لکه د اهل خپل محبت د علم په وجه او سبب د يو بل سره مينه لري .

د وطن پيژندنه

الف. لغوي پيژندنه: وطن عربی لفظ دی، زمونږ په ټولنه کې په هيواد او وطن دواړو سره شهرت لري، وطن د انسان د اوسيدلو ځای ته ويل کيږي(الهروی،۲۰۰۱م).

ب. اصطلاحي پيژندنه: علامه ابو البقاء الحنفي رحمه الله وطن په دری ډوله کړی:

۱. وطن الاصلي: چی ديته اهلي او فطري وطن هم ويل کيږي، دا هغه وطن دی چې انسان پکې پيدا شوی او لوی شوی وي.

۲. وطن الاقامة: دا هغه ښار او قريې ته ويل کيږي، چې څوک په کې مسافر نه وي، او د پنځلس ورځو او يا له دې څخه د زيات وخت د اوسيدو نيت ولري.

۳. وطن السکنی: دا هغه ځای ته ويل کيږي، چې مسافر پکې د پنځلس ورځو څخه د کم وخت د اوسيدو نيت ولري.

د وطن سره مينه : د خپل وطن سره مينه فطري عمل او په اسلامي شريعت کې روا کار دی، خو په اسلامي ټولنه کې د وطن سره د مينې په اړه جلا جلا نظرونه موجود دي، په دې کې دوه نظرونه داسې دي چې له يو بل سره مخالف دي او افراط (زياتی) په کې موجود دی، خو دريم نظر معتدل او د شريعت سره برابر دی، دغه نظرونه په لاندې توگه دي:

لومړی نظر: ځيني خلک د وطن سره مينه د ايمان برخه گڼي، وطن د مور سره مشابه کوي، دوي په خپل دغه نظر کې دومره زياتی کوي، چې څوک د دوي له فکر سره مخالف وي په ډول ډول نومونو يې يادوي، د وطن سره په خيانت يې تورنوي، دوي د خپل نظر د ثبوت لپاره په دغه وينا چې نبي صلی الله عليه وسلم ته يې منسوب شوی استدلال کوي: حُبُّ الْوَطَنِ مِنَ الايِمَانِ په داسې حال کې چې د دې حديث په اړه علماء بيلابيل نظرونه لري لکه؛ امام حسين بن محمد الصغاني رحمه الله وايي: دا موضوعي حديث دی(له ځان څخه جوړ شوی هيڅ اصل نه لري (الصغاني، ۱۴۰۵هـ)، امام سخاوي رحمه الله ويلي: دغه حديث نه پيژنم، خو معنی يې صحيح ده، ملا علي قاري د امام منوفي رحمهما الله قول نقل کړي، چې هغه په دې باندې رد کړی او داسې يې ويلي: څوک چې د دې حديث د صحت دعوه کوي دا عجيبه ده، ځکه د ايمان او د وطن د ميني ترمنځ هيڅ مناسبت نه شته، او دليل کې يې دا آيت مبارک راوړی: وَلَوْ أَنَّا كتبنَاعَلَيْهِم(النساء، ٦٦) ( يعنې که مونږ هغو ته حکم کړی وای)، له دې څخه مقصد منافقان دي، دوي د خپل وطن سره مينه کوله، خو ايمان يې نه درلوده، علامه الباني رحمه الله ويلي: دغه حديث موضوعي دی او معنی يې هم صحيح نه ده، ځکه د وطن سره مينه د انسان فطري غريزه ده، دا مينه داسې ده لکه چې خپل ځان او مال سره مينه کوي، دغه مينه د ايمان سره کوم تړاوو نه لري، ځکه په دغه مينه کې ټول

انسانان شریک دي، په دې مینه کې د مسلمانانو او کافرانو توپیر نشته.

ملا علي قاري رحمه الله په بل ځای کې ویلي: که د دې حدیث معنی صحیح هم شي نو مراد د وطن څخه جنت دی، ځکه هغه د ادم(ع) لومړنی مسکن دی، یا له دې څخه مراد مکه مکرمه او د مسلمانانو قبله ده، یا له دې نه مقصد مشهور وطن دی، خو په دې شرط د وطن مینه د هیوادوالو، غریبانو او یتیمانو سره صله رحمۍ او ښیګڼه کول وي.

دوهم نظر: ځیني نور وایې: د وطن سره مینه د اسلامي امت د اختلاف او ټوټه ټوټه کیدلو سبب او د دوي په وړاندې دسیسه ده، نبي صلی الله علیه وسلم څخه چې د مکې او مدینې سره محبت په اړه کوم احادیث ثابت دي، هغه خاص دي همدغه ځایونو پورې ځکه د الله تعالی په نیز محترم ځایونه دي، نور وطنونه په دې باندې نه شي قیاص کیدلی، په دې اړه یوسف بن جودة الداودي د یو حدیث په فوایدو کې لیکلي دي، ځیني ناپوهان وایې: چې دغه حدیث د وطن سره په محبت کولو باندې دلیل دی، خو د دې حدیث څخه د دوي خبره نه ثابتیږي، ځکه د مکې مکرمې سره د نبي صلی الله علیه وسلم د محبت کولو سبب معلوم دی ځکه مکه الله تعالی ته په ټوله ځمکه کې محبوبه وه، له دې څخه د وطن سره محبت کولو د اواز دوکه معلومیږي.

علامه قاسمي رحمه الله د (حُبُّ الْوَطَنِ مِنَ الاِيمَانِ) موضوعي حدیث په اړه وایې: د څیړنې وروسته معلومیږي چې دغه حدیث اوس د اسلامي أمت د بې لارې کولو او ټوټه ټوټه کولو لپاره هڅونه ده، ځکه د دې مطلب د مسلمانانو تر منځ په یو بل باندې غوره والی دی، د بېلګې په ډول د مصر یا شام مسلمانان د نورو څخه غوره دي، دغه د مسلمانانو انحراف او بې اتفاقي ده چې الله تعالی ترې منعه کړې، ځکه الله تعالی ټول مسلمانان ورونه ګڼلي او د کوم ځای پورې یې مقید کړي نه دي، الله تعالی فرمایلي: (اِنمَّا الْمُؤْمِنُونَ اِخْوَةٌ) (الحجرات،۱۰) بیشکه مؤمنان سره ورونه دي.

دریيم نظر: ځینی علماء وایې: د وطن سره مینه کول د انسان فطري غریزه ده، طبعاً هر انسان د خپل وطن سره محبت کوي، ځکه په هغه ځای کې پیدا شوی، لوی شوی، همدلته یې کورنۍ، خپلوان او ملګري اوسیږي، او همدلته به خښیږي، خو دغه محبت د الهي احکامو د معطل کیدلو او اسلامي شعایرو د سپکاوي باعث نه ګرځي، ځکه د وطن سره محبت چې د الهي احکامو د معطل کیدلو سبب ګرځي حرامه او ناروا ده، خو که د خپل وطن سره مینه د اسلامیت، د خپلوانو سره د دوستۍ او صله رحمۍ او د یتیمانو او غریبانو سره د مرستې په خاطر وي، دا ډول محبت کول مشروع او ښه کار دی، په دی اړه دلایل شته چې په لاندې توګه به ترې یادونه وشي:

د وطن مینه د قرآنکریم په رڼا کې: د قرآن کریم د ډیرو آیاتونو څخه معلومیږي چې د وطن سره مینه مشروع عمل دی، خو په دی شرط چې دغه محبت د الله تعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او نورو شرعي احکامو مخالف نه وي، دلائل په لاندې توګه دي:

1 . الله تعالی فرمایلي: وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ مَا فَعَلُوهُ اِلاَّ قَلِيلٌ مِنْهُمْ....(النساء،٦٦)

ژباړه: که مونږ هغو ته حکم کړی وای چې خپل ځانونه ووژنئ یا له خپلو کورونو څخه ووځئ نو له هغوی څخه به ډیرو لږو کسانو پرې عمل کړی وای.

د پورته مبارک آیت په اړه جاحظ وایي: الله تعالی خبر ورکوي چې د وطن سره مینه او محبت کول د خلکو طبیعت او فطري غریزه ده ، په بل ځای کې وایې: د وطن سره محبت کول فطري غریزه ده، چې الله تعالی په انسان کې پیدا کړی، چې ښارونه آباد کړي.

دوکتور وهبه الزحیلي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې لیکلي: ( اخْرُجُوا مِنْ دِيارِكُمْ) د کورونو څخه وتل یې د ځان وژنې سره یو ځای ذکر کړی، په دې کې دیته اشاره ده چې د خپل وطن څخه هجرت کول سخت وي، خلک د وطن سره مینه لري او د وطن سره تعلق ساتي.

2 . اِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرآنَ لَرَادُّكَ اِلىَ مَعَادٍ قُلْ رَبىَّ أَعْلَمُ مَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ(القصص،٨٥).

ژباړه: ای پیغمبره! باور ولره چا چې د دې قرآن مسولیت پرتا اچولی هغه یو ډیره ښه عاقبت ته ستا رسوونکی دی. دغو خلکو ته وو‌ایه چې زما رب ښه پوهیږي چې له هدایت سره څوک راغلی دی او په ښکاره ګمراهۍ کې څوک اخته دی.

د دې آیت د سبب نزول په اړه راغلي: نبی صلی الله علیه وسلم د هجرت په سفر کې د مکې څخه د مدینې په لور روان وو، جبرایل (ع) ورته د جحفې مقام کې راغې ورته یې وویل: ای محمد صلی الله علیه وسلم ستا د زیږیدو ځای ته دې د تللو شوق پیدا شو،نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: دا مبارک آیت یې ورته ولوسته چې الله تعالی وعده کړی چې ته به ضرور بیرته خپل اصلي ټاټوبي ته د فاتح په توګه راګرځول کیږي.

علامه درویش رحمه الله د پورته آیت په تفسیر کې لیکلي: وطن سره د مینې کولو د جواز په اړه ډیر دلائل شته چې له جملې څخه یې لاندې آیت ذکر کړی:

3 . الله تعالی فرمایلي: وَمَا لَنَا أَلاَّ نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا(البقرة،٢٤٦).

ژباړه: دا څنګه کیدای شي چې مونږ د خدای په لاره کښې ونه جنګیږو، په داسې حال کښې چې مونږ له خپلو کورونو څخه ایستل شوي یو او زمونږ اهل وعیال له مونږ څخه بېل کړای شویدی.

ځینو ویلې: د عقلمند انسان درې نښې دي: د خپلو ورونو سره ښېګڼه کول، د خپل وطن سره مینه کول، د خپل وخت د خلکو سره نرمي او د هغوي څخه دفاع کول (درویش،١٤١٥هـ).

همدا راز د نورو ډیرو آیتونو څخه په څرګند ډول معلومیږي، چې انسان د خپل وطن سره مینه لري، د همدې مینې په اساس د خپل وطن دفاع کوي، خپل وطن پسې خفه کیږي.

د وطن مینه د نبوي أحادیثو په رڼا کې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ډیر داسې احادیث رانقل شوي چې د هغې څخه څرګندیږي چې نبی صلی الله علیه وسلم خپل وطن سره مینه کوله، خو دغه مینه هیڅ کله د الله تعالی د امر په تطبیق

باندې غالبه شوی نه ده، دغه احادیث به په لاندی توګه ذکر شي:

۱. رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې چې کله وحې راغله، خدیجة الکبری رضي الله عنهما ورقه بن نوفل ته بوتلو، چې له هغه څخه پوښتنه وکړي او ځان مطمین کړي، نبي صلی الله علیه وسلم ورقه بني نوفل ته قصه وکړه، هغه ورته وویل: دا هغه وحي راوړونکې ملائکه ده چې د الله تعالی به موسی صلی الله علیه وسلم ته رالیږله، بیا یې ورته وویل چې کاش زه ژوندې وم په هغه وخت کې چې مکی والا تا د خپل وباسي څخه باسي، نبی صلی الله علیه وسلم ورته وویل: (أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ) ایا دوي به ما وباسي، هغه ورته وویل: هو، داسې نه شي کیدای چې څوک دی هغه څه راوړي چې تا راوړي او هغه سره دی دښمني ونه شي(البخاری ۱۴۲۲هـ).

علامه سهیلي رحمه الله ویلي: په دې حدیث کې ورقه بن نوفل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چې تا به خلک درواغجن وګڼي، او تکلیفونه به درورسوي، نبي صلی الله علیه وسلم هیڅ ونه ویل، خو کله چې یې ورته وویل: تا به خلک د مکې څخه وباسي، نو نبي صلی الله علیه وسلم پوښتنه یې وکړه،(أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ؟ ما به دا خلک د خپل کلي باسي، دا د وطن سره په مینه لرلو او په دې باندې دلیل دی چې د وطن پریښودل سخت وي.

۲. رسوالله صلی الله علیه وسلم له مکې څخه مدینې ته د هجرت پر مهال مکې مکرمې ته په خطاب کی وویل: مَا أَطْيَبَکِ مِنْ بَلَدٍ، وَأَحَبَّکِ اِلَيَّ، وَلَوْلاَ أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْکِ مَا سَکَنْتُ غَيْرَکِ(الترمذي،۱۳۹۵هـ).

ژباړه: ته څومره ښه او ښکلی ښار یې او پر ما څومره ګران یې، که زما قوم زه له تا څخه نه وای ایستلی زه به بې له تا بل ځای نه وای اوسېدلی.

۳. رسول الله صلی الله علیه وسلم په حزوره ځای کې ولاړ وو او مکې مکرمې ته په خطاب کی وویل: وَاللهِ اِنَّکِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللهِ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللهِ اِلَىَ اللهِ، وَلَوْلاَ أَنيِّ أُخْرِجْتُ مِنْکِ مَا خَرَجْتُ(الترمذي،۱۳۹۵هـ).

ژباړه: ای مکې په لوی څښتن قسم چې ته په رښتیا د خدای ډیره غوره مځکه یې، او د خدای ډیره خوښه مځکه یې، او که زه له تا څخه په وتلو نه وای اړ شوی، زه به له تا هیڅ نه وای وتلی.

۴. کله چې څوک د خپل وطن څخه مسافر شي، هغه ته خپل وطن یادیږي، که کوم هیوادوال سره مخ شي له هغه پوښتنه کوي، لکه أُصیل الغفاري رضي الله عنه چې مدینې منورې ته راغې، ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې ترې پوښتنه وکړه څنګه له مکې څخه راغلې؟ أُصیل الغفاري رضي الله عنه د مکې ځیني ښه صفتونه ورته بیان کړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: بس کړه ای أُصیله! زړونه مو مه غمجن کوه.

علامه زرقانی رحمه الله لیکي: دا کار د هجرت په لومړیو کې وو، خو د نبي صلی الله علیه وسلم په دعا سره دوي ته محبوبه شوه، دا په دې دلالت کوي، چې مدینه غوره ځای دی او نبي صلی الله علیه وسلم ورسره مینه درلودله.

۵. رسول الله صلی الله علیه وسلم د احد د غره زیاته مینه درلوده، د هغه په اړه یې داسې وفرمایلي: هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا

وَنُحِبُّهُ، اللَّهُمَّ اِنَّ اِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَاِنِيِّ حَرَّمْتُ مَا بَيْنَ لاَبَتَيْها (صحيح البخاری).

ژباړه: دغه غر زمونږ سره مینه لري او مونږ د هغه سره مینه لرو. ای ربه ! ابراهیم صلی الله علیه وسلم مکه حرم وګرځوه، زه د دغه دوو ډبرینو په کې ځای (مدینه منوره) حرم ګرځوم.

٦. عائشې رضی الله عنها فرمایلي: که هجرت نه وای زه به په مکه کې اوسیدم، زما زړه په هیڅ ښار کې دومره مطمئن او هوسا نه وي څومره چې په مکه کې هوسا او ارام وي.

امام ذهبي رحمه الله لیکلي: نبي صلی الله علیه وسلم د خپل وطن سره یې مینه درلوده.

د پورتنیو دلایلو څخه څرګندیږي چې اسلام د وطن سره مینه کول نه دي منع کړي، هر انسان د وطن سره مینه لري، ځکه دا یې فطري غریزه ده، وطن په انسانانو باندې حق لري، خو په دې کې د لاندې خبرو په نظر کې نیول ضروري دي:

الف. د وطن او وطنوالو سره به مینه د الله تعالی او د هغه چا څخه چې الله تعالی یې خوښوي مقدمه نه وي: د دوستۍ او دوښمنۍ معیار به وطن نه بلکې د الله تعالی لپاره دوستي کوي، د قیامت په ورځ به د عرش د سیوري لاندې وي، نبی علیه السلام فرمایلي: د قیامت په ورځ به اوه ډلې د الله تعالی د عرش د سیوري لاندې وي، چې یو د هغوی څخه هغه دوه سړي دي چې د الله تعالی لپاره محبت کوي(البخاري).

ب. د وطن سره مینه به د جاهلي عصبیت سبب نه وي، چې مسلمانان حق او باطل نه ګوري او د خپلو هیوادوالو دفاع کوي، ځکه په اسلامي شریعت کې عصبیت حرام دي، په دی اړه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې د عصبیت په اساس د چا په دفاع کې جګړه کوي، عصبیت ته بلنه کوي، د عصبیت په اساس د چا مرسته کوي او په دې حالت کې مړ شي د هغه مرګ د جاهلیت مرګ دی.

ج. د وطن مینه دومره غالبه نه وي چې د الهي احکامو مخالفت وشي، نبي صلی الله علیه وسلم د مکې سره محبت درلود، د مکې څخه وتل یې نه غوښتل، خو کله چې الله تعالی ورته د وطن د پریښودلو (هجرت ) حکم وکړو، سمدستي یې ومانه، نبي صلی الله علیه وسلم مکې ته په خطاب کې داسې وفرمایل: ای مکې په لوی څښتن قسم چې ته په رښتیا د خدای ډیره غوره ځمکه یې، او د خدای ډیره خوښه ځمکه یې، او که زه له تا څخه په وتلو نه وای اړ شوی، زه به له تا هیڅ نه وای وتلی(الترمذي ا.م.١٣٩٥هـ).

د. وطن سره مینه د اسلام او مسلمانانو د خیر غوښتنې، په روا کارونو د هیوادوالو سره د مرستې کول دي، الله تعالی په دی اړه فرمایلي: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ(المائدة،٢).

ژباړه: کوم کارونه چې د نیکۍ او د خدای پالنې دي په هغو کې د ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تیري وي په هغه کښې د هیچا ملاتړ مه کوئ.

ه. د وطن مینه د هیوادوالو سره محبت او مهربانۍ ده، خو دغه محبت باید د نورو هیوادونو د مسلمانانو سره د نفرت سبب نه شي، ځکه ټول مومینان سره ورونه دي، د یو

بدن د غړو په څېر دي، نبی علیه السلام فرمایلي: مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ، وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى.

ژباړه: مؤمینان په مینه، ترحم او مهربانۍ کې د یو بدن په څېر دي، کله چې د بدن یو غړی په درد خوږیږي، ټول بدن ورسره په بې خوبۍ او تبه کې درد من وي.

و. د وطن مینه نیکو کارونو ته د هیوادوالو رابلل او د هر ډول بې دینۍ، خیانت او فساد په وړاندې مبارزه ده، ځکه په مسلمانانو باندې تر ټولو وړاندې خپلو خلکو ته نصیحت کول لازم دي، الله تعالی فرمایلي: وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ (العشراء،۲۱۴). ژباړه: خپل ډېر نیږدې خپلوان وویروه.

ز. د وطن مینه د هیوادوالو اتفاق او یووالی، د خپلو دیني او هیوادني ارزښتونو څخه دفاع کول دي.

ح. د وطن مینه هیوادوالو ته ګټه رسول دي، خو دغه ګټه به هیڅا ته د زیان رسولو سبب نه وي، ځکه په اسلام کې خلکو ته زیان رسول حرام دي.

خ. د وطن مینه د وطن آبادول، هیوادوالو ته خدمت کول او هیوادوال په علم او پوهه باندې سمبالول دي.

پایله

که چیرته د وطن مینه فطري غریزه وګڼل شي، دا جایزه ده، خو چې د ګناه او الهي حکم د معطل کیدلو سبب نه شي، که د وطن په مینه باندې عمل کولو مقصد د الله تعالی د رضاء لپاره د استعمار ګرو کفارو څخه آزادي اخیستل وي، نو بیا د وطن سره دا ډول مینه کول واجب دي، او که د وطن سره مینه د وطنوالو، ګاونډیانو او خپلوانو سره د نیکۍ په أساس وي نو د وطن سره دا ډول مینه مشروع عمل دی، خو که د وطن سره مینه کول د دوستۍ، دوښمنۍ او جاهلي عصبیت په اساس وي، نو د وطن سره دا ډول مینه حرامه ده.

اخځلیکونه


۱. قرآن کریم

۲. البخاری، صحیح البخاري.

۳.الترمذی، سنن الترمذي.

۴. الافریقی، ا، أ (۱۴۱۲هـ) ج اول، بیروت، دار صادر.

۵. النجار، المعجم الوسیط، ج۱، قاهره، ناشر: دار الدعوة.

٦. الأصفهاني، (۱۴۱۲هـ) المفردات في غريب القرآن، دمشق بیروت، ناشر: دار القلم ، الدار الشامية.

۷. الهروي، (۲۰۰۱م) تهذيب اللغة ،بیروت،ناشر: دار احیاء التراث العربي.


۸. الصغاني، (۱۴۲۱هـ)، الموضوعات، ص ۵۳، دمشق، ناشر: دار المأمون للتراث.

۹. الجاحظ، (۱۴۲۴هـ) ، الحيوان، بیروت:ناشر: دار الكتب العلمية.

۱۰. درويش، (۱۴۱۵هـ ) اعراب القرآن وبيانه، ج۴، ص۴۳۳.بیروت: ناشر: دار اليمامة او دار ابن كثير.

# غاښ تعریف

لیکنه: ډاکټر علي رضا (نیکمل)



غاښ د سپین رنګه کلکو مقاومو انساجو څخه عبارت دی
.کوم چې الویول هډوکی په ساکت کی نصب شوی دی

وایې ، هر oral cavity خولی جوف ته په طبعی ژبه کی
او aupper jaw انسان لرونکی د دوه ژامو دی. پاس ژامی ته
وایې چی د پاس ژامی لپاره د lower iaw لاندی ژامی ته
کلمه استعمالیږی او لاندی ژامی لپاره د maxilla
.کلمه استعمالیږی mandibulla

د تولد په وخت کی د خولی په جوف کی هیڅ کوم غاښ
شتون نلری ، خو وخت په تیریدو سره په مختلفو مرحلو کی
. یا خروج کوی eruption مختلف غاښونه

په عمومی ډول غاښونه په دوه برخو ویشل شوی دی

لمړی یا شیری غاښونه primary tooth

دویم . دایمی غاښونه adult tooth

کوچنیانو غاښونه عموما 20 دانی دی ، لس په پاس ژامه کی
. او لس په لاندی ژامه کی دی

شیری غاښونه په 6 میاشتنی کی په خروج پیل کوی چه تر
دری کلنی پوری بشپړ کیږي یعنی 7 کلنی پوری باقي پاتي

کیږي او د 7 کلني وروسته دایمي غاښونه خروج کوي او
شیري غاښونه تول غورځیږي.

دایمي غاښونه تول 32 دانی دایمی غاښونه یا Adult Tooth
دی 16 په پاس ژامه کې او 16 په لاندې ژامه کی دی .

دایمی غاښونو 7 کلنۍ نه تر 14 کلنی پوری خروج کوی
عقل دندان ( اخیر مولر ) یا دریم مولر د 17 نه شروع ان تر 30
کلنی پوری خروج کوی .

:د ماشومانو غاښونه په دری ډوله دی

3_Incisors 2_Canine 1_Molar

.ماشومان پریمولر غاښونه نلری

:دایمی غاښونه په څلور ډوله دی

4_Molar 3_Premolar 2_Canine 1_Incsors

:اناتومی له نظره غاښ دری برخو څخه جوړ دی

3_Root 2_Neck 1_Crown

:هستولوژي ساختمان له نظره په څلور ډوله دی

4_Cement 3_Pulp 2–Dentin 1–Enamel

:د غاښونو سطحی هر غاښ پینځه سطحی لری

1_buccal surface

2_lingual surface

3_occlusal surface

4_incisial surface

5_platinal surface

:غاښونه دوه ډوله انساج لري!

سخت انساج او 2 نرم انساج 1

سخت انساجEnamel 2_Dentin 3_Cement 1

1 pulp نرم انساج دی

:د غاښونو دندی!

1.د ښکلا له نظره ډیر د اهمیت وړ دی ـ

2.د خبرو کولو دنده په غاړه لری ـ

3.دنده ژولو دنده په غاړه لری ـ

د غاښونو د خرابیدو عوامل څه شی دی؟

. .نشه یې توکی _1 . قندی مواد _2

الکول او مشروبات _3 عمر _4

ارثیت دی _5 ضربې _6 او داسی نور

د خولی او غاښونو د حفظ الصحی نه مراعتول کومی !
ناخوالی رامنځته کوی؟

1 ستونی امراض ـ 2 د وریو التهابات ـ

3 تنفسی ستونزی ـ 4 د خولی سرطان ـ

5 د غاښونو رژیدل ماتیدل او تویدنه ـ

او داسی نور

څه ډول د غاښونو له خرابیدو مخنیوی کوی شوو؟!

لمړی تر ټولو مهمه خبره د خولی حفظ الصحی لپاره د غاښونو برش او کریم استعمال دی دوه وخته

دوهم مسوک استعمال دی

دریمه خبره په زیاته اندازه د پاکو اوبو استعمال دی

څلورم د غاښونو تار استعمال دی یا dental floss

پینځمه د زیاتو قندی موادو څخه ډډه کول

شپږم سهار لخوا یو گیلاس شیدو څښل

اووم د لیمو او گرمو اوبو په واسطه غړه غړه کول

:د غاښونو پیاوړتیا لپاره صحی خواړه!

1:کلسیم

دا د غاښونو اصلي برخه ده نو له همدی امله کلیسم خورا اړین دي کلیسم په زیاته برخه په لاندی محصولاتو کی موندل کیږی شیدو کی لوبیا بادامو کی شاتو کی انگور کی سبزیجاتو کی او میوو کی او داسی نور

2:ویټامین ډي

. ډیر ؤیټامین په جگر او کب کی موندل کیږی

3:فاسفورس


.زیات په شنه منه کی غوښه کی کی جیگر کی او داسی نور

4:فلوراید

مونږ په دوه طریقو اخلو اول د خولی له لاری دویم په دواگانو کی راځي مثال کریمونو کی او داسی نور فلوراید زیات په اوبوکی ، په ونو کی، پاڼو کی، میوو کی، سبزیجاتو .کی او مصالحو کی موندل کیږی

# په مکه مکرمه کې د افغانستان
# د افغاني حاجیانو کاروان سرایونه

لیکنه: اسرایل (غیرت)



کاروان سراي او مسافر خاني ته په عربی کی (رباط) وایی آفغانستان په مکه مکرمه کې دوه افغاني رباطونه لري (مسافرخانی) لری

(۱) احمدشاهی کاروان سرای

(۲) نادرشاهی کاروان سرای

په مکه مکرمه کی تیرو وختونو کی یوشمیر واکمنو او شتمنو او ځینو همتناکو ښځو زیات شمیر کاروان سرایونه جوړ کړي وه او حاجیانوته یی وقف کړی وه دغه ټولی مسافرخانی دنزدی وختونو پوری موجود وه ـ

خو کله چی په (۱۳۷۵) س کی دسعودی حکومت دمسجد الحرام او نوروواټونوپه پراخولو لاس پوری کړ نو ددغه مسافر خانو زیات شمیر ونړول شوی اوله مینځه لاړیخو دنیکه مرغه دافغانستان مسافرخانی چی په رباط سلیماني نومول شوی وی او بیا وروسته په رباط احمدشاهي مشهورشوه ددغه نقشو لاندی ندی راغلي او روغ رمټ په خپل ځای اوخپل حال پاتی دي !

ـ ددغه افغانی مسافر خانو په حقله ستر مورخ

عزیزالدین وکیلي- په خپل تاریخ احمدشاه امپراتور افغانستان لومړی ټوک کی لیکی !

اعلحضرت احمدشا ه دور دوران په(۱۱۳۳) ل کال کی چی د۱۷۵٤) سره برابره ده احمدشاه بابا اراده وکړه چې په (حجاز)

یعنی ووسنی عربستان کی په مکه مکرمه سپیڅلی ځای کی دافغان حاجیانو لپاره یو کاروان سراي جوړ کړی نو ددغه

مسافرخانی دبنسټ ایښودلو امر یی وکړ او دجوړولو کار یی په (۱۱۳۵) ل کال شروع کړ او په او په (۱۱۷۰) س پاي ته ورسید اعلحضرت احمدشاه بابا ددغه رباط نوم رباط سلیمانی کیښود دسلیمان دغره لوړه څوکه دتخت سلیمان په نوم یادیږی چی (۳۳۸۳) متره لوړه ده دا دپښتنو ډیره تاریخی او مشهوره سیمه ده پښتانه په کی دډیر لرغونی زمانی څخه او تراوسه په کی استوګن دی دسلیمان سیمه دکسي دغره په نامه هم مشهوره ده نو احمدشاه بابا په دی اساس ورته رباط سلیماني نوم کیښود !

بابا دغه وخت لاهورکې په فتوحاتو بوخت وه نو په دی اړه یی یو فرمان ولیکه او مهر یی پرې وواهه او حاجی عبدالکریم خان بارکزی چی ددغه کاروان سرایی چاری ورسپارل شوی وی حکم ورته وکړ چی ددغه رباط دتاریخ لوحه په یوه ډبره ولیکې او درباط افغانی ددروازی دپاسه یې ولګوی په ډبره لیکل شوی متن په دی ډول دی !

( گشاده باد به دولت این درگا ـ بحق اشهدوان لا اله لا لله )

ؤکیلي زیاتوي ددغه ډبری لیکنه په(۱۳۱۱) ل کال لیدل شوی ده دی زیاتوی چی اعلحضرت نادرشاه ددغه کاروان

سراي دبيا ودانولو لپاره دخپل دلبار وزير او داکا ځوی محمدشاخان او مولوي سيف الرحمن اخونزاده۔ عبدلقيوم۔ ۔ او مولوی محمد بشر خان طرازي په ملګرتيا دهيت په توګه په ( ۱۳۱۰) ل کال دکب په مياشت کی جلاباد او بيا دهند دلارې عربستان ته ولېږل شو په (۱۳۱۱) ل کال مکې مکرمې ته ورسيدل دسعودي عربستان دپاّچا ملک عبدا لعزيز لخوايې هرکلی وشوه نو ددغه کاروان سراي ديوالونه زاړه شوي وه او هغه ډېر ليک يو خوندی ّ ځای ته وړل شوی وه

آستاذ رشاد وايی ! دنادرخان لخوا ددلبار وزير احمدشا خان او مولوی مبشر طرازي اومولانا سيف الرحمن الکوزی په ملګرتيا حج ته لاړل او هلته يی دغه افغاني کاروان سراي ترميم کړ او دافغاني حاجيانو اوسيدو مرکز يی وکرځاوه!

دانيس ورځ پاڼه په (۱۳۸٤) ل کال ليکي چې دافغانستان لخوا يو هيت مکې مکرمې ته تللی وه دسعودي چار واکو سره يې خبرې کړی وې بيا دهيت لخوا دغه افغاني کاروان سرای ترهيم او تردی نزدی وختونو پوری فعال وه او افغانی حاجيان په کی اووسيدل!

۔ دافغانستان دارشاد حج او اوقافو وزارت دچارواکو دخولی په مکه مکرمه کی دافغانستان نور ملکيتونه هم شته خو افسوس چی ديو څخه يی هم دافغاني حاجيانو لپاره کارندی اخستل شوی ۔

خو بيا ډېر هيوادونه دخپلو حاجيانو دخدمت اوهسايني لپاره لوی لوی ودانۍ په واک کې لري ّچی دهغی دجملی څخه زمونږ ګاونډی هيواد پاکستان په مکه مکرمه کی دپاکستان

هاوس په نوم پو ستره(۷) پوړيزه ودانۍ لری روغتون دحج ددفتر اونور سهولتونه لری !

خو زمونږ هيله دامارت اسلامی دچارواکو نه داده چه دغه افغاني ملکيتونه او افغاني کاروان سرآيونه دخپل ملکيت ثابتولو لپاره ديو باصلاحيت مقام دلاري دسعودي حکومت سره جدي او عاجلي خبری وکړی اودخپلو ملکيتونو جراتمندانه غوښتنه وکړی او دخپلوافغاني حاجيانو دخدمت لپاره لاس په کارشی ۔

په دی کار کی غفلت به تاريخی سهوه اواشتبا ه وي

لکه څنګه چی داحمدشاه بابا په دوره کی داحمدشاهی رباط په نامه په مکه مکرمه کی دافغاني حاجيانو لپاره افغانی رباط موجود وه چی دمانۍ سره يی لويه حويلۍ هم لرله !

همدغه شان داعلضرت محمدنادرشاه په وخت کی مکی مکرمی ته نزدی دافغانی حاجيانو لپاره يو کاروان سراي نادرشاهي په نوم موجودوه چی هر وخت يی يوافغانی منتظم درلود دغه کاروان سراي ته يی رباط نادرشاهي واي

نوټ ۔ په دی کی هيڅ شک نشته‌چی په مکه مکرمه کی داحمدشاهی رباط۔

او نادرشاهي رباط په اړه دوسيه موجوده ده څېړونکي کولای شي چی دافغانستان دبهرنيو چارو وزارت ارشيف څانګی ته مراجعه وکړي او موثق اسناد او معلومات تر لاسه کړی

# په اسلامي شریعت کې د جنګي بندیانو حقوق

پوهیالی لمرۍ څارن محمد جاوید"حبیبی"



لنډیز

بشري نړۍ دجنګي بندیانو په اړه خورا قهرجن او بشرضد پړاونه تیر کړي، تر دې چې یو وخت پرجنګي بندي هیڅا رحم نه کاوه او دهغه وژل ، مثله کول ، شکنجه کول، ژوندي په سرو غوړیو او تودو اوبو کي اچول یې خپل مسلم حق ګاڼه ،خو داسلام مبارک دین په دي اړه دنړیوالو حقوقو څخه پخوا لومړی جګړه منفې پدیده،او اصلي موخه یې سوله وټا کله ، جګړه یې یوه اړتیا او استثناء وګڼله تر څنګ یې دجنګي بندیانو لپاره بنسټیزه قواعد وضعه کړل ، ان تر دي چې دالله رسول صلی الله علیه وسلم به صحابه کرامو ته دجنګي بندیانو په اړه دومره دښیګڼې توصیه کولی چې صحابه کرامو به هم تر خپل ځان مخکي هغوی (جنګي بندیانو ) ته ډوډۍ او خواړه ورکول.

دجنګي بندیانو دحقوقو مسئله تر بل هر ځای په افغانستان کي خورا مهمه څکه ده چې نږدی څلور لسیزي دغه هیواد په تودو تحمیلي او ځیني وختونو په استخباراتي جنګونو کي را ښکیل ؤ ، بناءً دلته چې څومره دغه موضوع تشریح کیږي ؛ کیدای شي دجګړې داړخونو پام ځانته راواړوي تر څو هر لوری په خپل وار دجنګي بندیانو شرعي او انساني حقونو ته درناوی وکړي.

کلیدي کلیمې: اسلام ،جنګ ،بندي

سریزه

جګړه هغه منفې پدیده ده چې دځمکي پر دی خاوریني کرې باندي دلومړیو انسانانو یعني د آدم علیه السلام د دوو زامنو(هابیل او قابیل ) ترمنځ پیل، په کرار کرار د دولتونو ترمینځته راتګ وروسته یې ابعاد پراخ شول او د هستوي او ذری وسلو په اوسنۍ ډکي نړۍ کي نږدې هره ورځ دنړۍ انسانان دجګړې شاهدان دي،په شلمه میلادي پیړۍ کي دوسترو نړیوالو جګړو بشري نړۍ له ستر بشري ناورین سره مخ کړه،له دې وروسته دنړیوالو پام دیته را واوښت،چي لومړی خوباید دجګړې مخه ونیول شي ،عوامل یې له مینځه یوړل شي.

بشـري نـړۍ دجنګـي بنـديانو پـه اړه خـورا قهرجن او بشرضـد پراونـه تيـر کـړي دي چـې يووخـت پرجنګـي بنـدي هيڅـا رحـم نـه کـاوه او دهغـه وژل، مثلـه کول،شـکنجه کـول، ژونـدي په سروغوړيو او تـودو اوبـو کـي اچـول يـې خپـل مسـلم حـق ګانـه، خـو اسـلام مبـارک ديـن پـه دې اړه دنړيوالـو حقوقـو څخـه پخـوا لـومړی جګـړه منفـي پديـده وګڼـل او اصـلي موخـه يـې سـوله وټاکـل، جګـړه يـې يـوه اړتيـا او اسـتثناء وګڼـل ترڅنـګ يـې د جنګـي بنـديانو لپـاره بنسـتيزه قواعـد وضـعه کـړل، ان تـر دې چـې دالله رسـول صـلی اللـه عليـه وسـلم بـه صـحابه کرامـو تـه د جنګـي بنـديانو پـه اړه دومـره دېنـيګڼې توصـيه کول چې صحابه کرامـو بـه هـم تـر خپـل ځـان مخکي هغوی ته ډوډۍ او خواړه ورکول.

منځ پانګه:

دجنګي بندي تعريف او ډولونه

دبندي ( اسير) لغوي تعريف

بندي چې پـه عـربي ژبـه کـي ورتـه اسير وايـې پـه پښتو کـي يـې جمـع بنـديان او پـه عـربي ژبـه کـي يـې جمـع الاسری دي ، اسير پـه لغـت کـي اخـذ ( اخيسـتلو) تـه وايـې او دغـه بنـدي کيـدل يـا د جنـګ پـه وخـت کـي وي يـا هـم دجنـګ لـه ختميـدو وروسـته ؛بنـاًء اسـيرد دښـمن هـر هغـه کس تـه ويـل کيـږي چـې د جنګ پـه وخـت کـي يا هم د جنګ له کبله ونيول شي.

دبندي اصطلاحي تعريف

اسير (بنـدی ) پـه اصـطلاح کـي دکفـارو او مشرـ کينـو د وسـله والـوجګړه مـارو څخـه عبـارت دی چـې دجنـګ پـه بهيـر کـي يـا هـم دجنـګ وروسـته دمخـالفو ځواکونـو پـه لاس کـي ولـويږي ، البتـه نارينـه جنګـي بنـديانو تـه اسير اصـطلاح کـاريږي او کـه دکفـارو ښـځې او کوچنيـان دجنـګ پـه بهيـر کـي يـا لـه هغـه وروسـته دمجاهـدينو پـه لاس ونيـول شي نـو هغـوی تـه دسـبي اصـطلاح کـارول کيـږي خـو بيا هم په بنديانو کي شامل دي .

دجنګي بنديانو دحقوقو سرچينې

دجنګـي بنـديانو دحقوقـو سرچينـې پـه اسـلامي شريعت کي

پـه اسـلام کـي دجنګـي بنـديانو دحقوقـو سرچينـې عبـارت دي لـه : اصـلي سرچينـو او فرعـي سرچينو څخه .

اصلي يا مستقيمي سرچينې الف : قرانکريم

ب: نبوی سنت ج: اجماع د: قياس

فرعي يا غير مستقيمي سرچينې

الف : نړيوال تړونونه ب: نړيوال عرف

دجنګـــي بنـــديانو تـــولنيز او مـــدني حقـــوق پـــه اسلامي شريعت کي

لــه جنګــي بنــديانو سره دنيکــۍ او ښــه رويــې حق

اســلامي شريعــت پــه ټولــه کــي انســان اشرف المخلــوق ګڼــي او هغــه تــه پــه انســانی کرامــت قايـــل دی ، اللـــه تعـــالی دانســـانانو دانســـانی کرامــت او درنښــت پــه اړه فرمــايی ژبــاړه :او لــه شکه پرته مو د ادم اولادی ته کرامت ورکړی .

د ذات الرقـاع غـزا (څلـورم هجـري کـال) پـه پـای کـي چـي کلـه اسـلامي جنګيـالي بريـالی شـول، پيغمـبر عليـه السـلام سرتيـرو تـه توصيـه وکـړه چـي : لـه جنګـي بنـديانو سره نـرم سـلوک وکـړئ، هغـــوی پـــه چلاقـــي (تازيانـــه چـــي د اس لپـــاره کـارول کيـږي ) مـه وهـئ،لاسـونه يـې مـه تـړئ،او په همدې بسنه وکړئ چي وسلې يې واخلئ.

جنګي بندی ته دسرپناه د ورکولو حق

د اسلامي تـاريخ لـه مطالعی څخـه ښـکاری چـې دپيغمبر عليـه السلام پـه وخـت کـي بـه چـې کلـه بنـديان ونيـول شـوه، نـو دصـحابو کرامـو او پـه خپلـه دپيغمـبر عليـه السـلام پـه کـور، مسـجد او کــاروان سرايونــو کــي ســاتل کيدل.څــه وخــت چـې دبنـی قريظـه کسـان بنـديان شـول ، دورځـي په نيمايـي کـي داچې ګرمـی وه،سوځنده لمـر ؤ ، په دی وخـت کـي رسـول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم دلمـر څخـه د دوی دخونـديتوب پـه اړه وفرمايـل ژبـاړه : دوی پـه ښـه طريقـه سره بنـدی کړئ دغرمـی خـوب تـه يـې پريـږدی او اوبـه ورتـه ورکـړئ تـر څـو سـاړه شـی .... پـر دوی بانـدی لمـر او وسـله دواړه مـه يوځـای کـوئ (وژل يـې کفايت کوی ، په لمريې مه وهئ).

دجنګی بندی د روغتيا او درملنی حق

پـه اسـلامي شريعـت کـي يـوه عامـه قاعـده دا ده چې هـر څـوک دخپـل لاس لانـدی اشخاصـو پـه وړانـدی مسـؤليت لـري، دا چـې جنګـي بنـدی د اســلامي دولــت تــر لاس لانــدی او دهغــوی پــه واک کـي دی ؛نوځکـه يـې بايـد درملنـه وکـړی، اســلامي شريعــت د هــر جــرم لپــاره مشخصــه جـزاء لـري، غيـر اصـولی زجـر نـه منـی، اسـلام هيڅکلـه دا اجـازه نـه ورکـوی چـې يوشـخص دی د شرعــي محکمــی دحکــم څخــه پرتــه پــه داسی ډول وساتل شی چې خپله هلاک شی.

پيغمـــبر عليـــه الســـلام دلاس لانـــدی کســـانو دمسـؤليت پـه اړه فرمـايی : ژبـاړه : خبـر وه اوسـئ تـا سـو ټـول شـپانه ياسـت او ټـول لـه خپـل رعيــت څخــه مســؤل ياســت ، نــو څــوک چــې دخلکـــو آميـــر وی شـــپون دی او خپـــل رعيـــت څخـه مسـؤل دی اوسـړی دخپـل کـور پراهـل (غړو) شپون دی او د هغوی مسؤل دی .

بنـاء دزخمـی جنګـي بنـدی وژل هـم نـاروا دی ، بايد درملنه يـې وشـی ، لکـه څنګـه چـې دبنـديانو

په اړه دالله رسول صلی الله علیه وسلم په ټوله کې داحسان امر کړی چې دجنګی بندی درملنه او روغتیا ساتل په همدی احسان کې شاملیږی .

دبیګارۍ څخه دجنګی بندی دمنعی حق

علماء وایې چې په اسلامي شریعت کې دجنګی بندی له بیګاري څخه منعه شوی ، یعنی په زور باندی په هغه باید کار ونسي،دلیل یې دا دي چې دا کار د هغه احسان مخالف دی کوم چې اسلام او داسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې توصیه کوی ( استوی صوا بالا ساری خیراً ) ژباړه : دبندیانو په اړه دخیر او نیکي توصیه وکړئ، اسلام حتی مالک ته اجازه نه ورکوی چې پرخپل غلام باندی داسی کار وکړی چې دهغه له توان څخه لوړ وی، بناء که بندی په خپله خوښه او رضا کار ونکړی ، چاته اجازه نشته چې هغوی په زور کار ته اړ کړی.

دجنګي بندیانو دملاقاتو او اړیکو حق له خپلي کورنۍ او خپلوانو سره

مهرباني ، لطف او زړه سوی داسلام مبارک دین روښانه ځانګړتیاوي دي ، دا چې دجنګي بندیانو ملاقات دهغوی یو وراني او طبیعي غوښتنه ده ؛ بناء اسلام مبارک دین په دې اړه کوم ممانعت نه لري ، بلکه لاره یې ورته پرانستې پریښې ، خو داچې دملاقاتو او اړیکو ډول او دتماس وسایل دورځي په بدلون سره تړپیر لري ،نو دملاقاتونو ډولونه هم د وخت مسلمانو حاکمانو او شورا ته سپارل شوي.

دوکتور عبدالطیف بن سعید الغامدی په خپل کتاب کي د(حقوق زندانیان در اسلام) تر سرلیک لاندي په یوه بحث کي لیکي چې : داسلام په مبارک دین کي جنګي بندي ملاقات دخپلي کورنۍ او خپلوانو سره جایز دی ، نظر لاندي دلایلو ته :

١ - تر څو دخپلی کورنۍ او خپلوانو له مینې او مهربانۍ څخه بې برخې نشي- دا له رواني عاطفي پلوه دهر انسان اړتیا ده .

٢ - تر څو کورنۍ او دوستان یې له هغه جرم څخه چې تر سره کړی یې دی، پیښمانه کړي او دنوموړي داصلاح باعث وګرځي ، ځکه دښو کسانو سره ناسته شخص ښه کارونو ته هڅوي.

پایله

دڅیړني په پایله کي جوته شوه چې اسلامي شریعت کي دجنګی بندیانو حقوق منل شوی دي؛ چې مهم یې عبارت دي له : دجنګي بندی لپاره د دینی مذهبي مراسمو د اداینې حق، اسلام ته دجنګي بندی دبلنې حق،

د روژې دمياشــتي راتــګ او پــه نــورو مــذهبي ورځــو کــي دجنګــي بنــدی سره ځــانګړي رويــې حــق،جنګي بنـــدي تـــه دقـــران او زده کـــړو دښـوونې حـق، لـه جنګي بنـدیانو سره د نیکۍ او ښــه رویــې حــق، د جنګــي بنـدي د اوبــه کولـو او خــوړو ورکولــو حــق ، د جنګــي تــه دسرپنــاه د ورکولـو حـق، جنګــي بنـدي تـه مناسـب لبـاس دورکولـــو حـــق، دجنګـــي بنـــدي دروغتیـــا او درملنــي حــق، دبیګــاری څخــه دجنګــي بنــدي دمنعي حـق، دجنګـي بنـدیانو پـه منځ کـي دمـور، پــلار، اولاد او ورور تــرمنځ دبیلــوالي دمنعــي حـــق،دجنګي بنـــدي او کـــورنۍ تـــر منځیـــې دملاقـات او اړیکـو حـق ، دجنګـي بنـدي کـاراو دکــار د مــزد اخیســتلو حــق ، دجنګـــي بنـــدي دژونـد حـق او بـالاخره د جنګـي بنـدی دآزادۍ پـر مـواردو شرعـي ، حقـوقي او قـانوني څیړنـه تـرسره شوه.

همـدار راز معلومـه شـوه چـې اسـلامي شریعـت دجنګـــي بنـــدیانو دحقوقـــو لپـــاره شرعـــي او حقــوقي سرچینــې لــري او د تطبیــق لپــاره یــې اجرائیوی ضمانت هم وجود لري.

پــه پــورتني بحــث کــي نــه یــوائې اســلامي شریعت لـه نظـره دجنګـي بنـدیانو دحقوقـو څیړنـه وشــوه؛بلکه لــه تــاریخي پلــوه هــم پــه بیلابیلــو تـــاریخي دورو کـــي د جنګـــي بنـــدیانو پروضـعیت لـه څیړلـو وروسـته جوتـه شـوه چـې داســلام مبــارک دیــن لــومړی دیــن او دنړیــوال قــانون ؤچــې جنګــي بنــدیانو تــه یــې دپراخــو حقوقو د ورکولو اعلان وکړ.

اخیستنه

١ – القران کریم

۲- اســلام وحقــوق بــین الملــل بشردوســتانه ، جمعـی از نویسـند گـان تهـران نشرـمیزان چـاپ اول ۱۳۹۲

۳- البخـاری ابـی عبداللـه محمـد بـن اسـماعیل صـحیح البخـاری دار ابـن کثیـر دمشـق وبیـروت الطبعة اولا ولی ۱۴۲۳هـ

۴- حکمتیار دقران پلوشی تفسیر لومړی ټوک

۵- حکمتیار دقران پلوشی تفسیر دویم ټوک

٦- حکمتیار دقران پلوشی تفسیر اووم ټوک

۷- حکمتیار دقران پلوشی تفسیراتم ټوک

**لیکنه: اسماعیل (سحر)**

# د اودس تعریف(پیژندنه)



اودس چې په عربي کې الوضوء ورته وایي

په لغت کې ښه او پاک کولو یا د اندامونو د مینځلو لپاره د اوبو استعمال ته اودس وایي

او په شریعت کې د مخصوصو اندامونو ( مخ ، لاسونو او پښو مینځلو او د سر مسح کولو ته اودس وایي،

( د اودس حکم )

د احنافو په نزد اودس پنځه ډوله دي

(1)فرض دي ، د لمونځ ، د جنازې لمونځ او د قرآن د کریم د مسحه کولو لپاره

(2)واجب دي ، د کعبې شریفې د طواف لپاره

(3)سنت او مستحب دي


د هر لمانځه لپاره اودس کول او د اوداسه تازه کول مستحب دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي (لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم عند كل صلاة بوضوء، ومع كل وضوء بسواك) رواه أحمد بإسناد صحيح ،، ( یعنې ) که زما امت ته مشکل او تکلیف نه وای دوی ته به مې د هر لمانځه لپاره د اودس کولو او مسواک وهلو حکم کړی وای ، د شرعي علم ورکولو یا تعلیم لپاره اودس کول مستحب دي ، په اوداسه سره بیده کېدل مستحب دي ، د قهر او غصې پر مهال اودس کول مستحب دي د غسل کولو مخکې اودس کول مستحب دي ، د آذان کولو ، د نکاح خطبه ویلو ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت کولو ، د عرفات درېدو لپاره اودس کول مستحب دي ، د گناه کولو وروسته اودس کول مستحب دي ، د مړي د غسل ورکولو وروسته اودس کول مستحب دي ، د جمعې او اخترونو د پاره غسل کول سنت دي

(4)مکروه دي ، د لمانځه مخکې اودس په اوداسه کول مکروه دی داسې چې اودس وکړي پرته له لمانځه کولو او ماتېدو بیا اودس وکړي دوهم ځلې داسې کول مکروه دي

(5)حرام دی ، په غصب شویو اوبو همدارنگه د یتیم په اوبو باندې.

# د غمرازۍ پیغام

انالله و اناالیه راجعون



د پښتو د ادب په اسمان ځلانده ستوری لیکوال, شاعر, ژورنالست څیړونکی, کیسه, ناول او ډرامه لیکونکی, د پښتونخوا د پوهنې دېرې مشر او د نیاز ادبي سنګر مشر وتلی ادیب لایق زاده لایق لدې نن په 30.10.2023 نېټه په پېښور کې له دې پاتې نړۍ له تل لپاره سترګې پټې کړې. د اروابناد جنازه د سوات په مدین کې خاورو ته سپارل کېږي .اروابناد لایق زاده لایق د پښتني کلتور د سمسورتیا او بډاینې لپاره نه ستړي کېدونکې هر اړخېزې هلې ځلې کړي دي, ګڼ شمیر پنډ پنډ کتابونه یې لیکلي دي چې له تاریخي پلوه ډیر لوې ارزښت لري .

اروابناد لایق زاده لایق خپل قلم د خپلې ټوټې ټوټې خاورې او ولس د سوکالۍ, ابادۍ او قامي وحدت لپاره کارولی دی او په ډېره زړورتیا یې د قامي مبارزې غږ اوچت کړی وو.

اروابناد لایق زاده لایق لکه د نورو قامي مشرانو په څیر د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند PSDP# دمشرانو سره ډېرې نژدې اړیکې اوراشه درشه لرله .

همدا ډول یې په بره پښتونخوا کونړ ولایت کې د فرهنګي او کلتوري ټولنو سره د پېښور د پوهنې دیرې اړیکې ټینګې کړې وې او وخت نا وخته یې د لر او بر په پروګرامونو کې د ادیبانو او لیکوالانو د ګډون چاري سمولې.

د خاص کنړ ادبي او کلتوري ټولنه د اروابناد لایق زاده لایق مړینه پښتون ملت ته ستر زیان بولي، د لوې خدای له درباره ورته د جنت فردوس غوښتنه کوي، دکورنۍ غړو, خپلوانو او ملګرو سره یې په دې دروند او نه جبران کېدونکي غم کې ځان شریک ګڼي.

اروا یې ښاده او یاد یې تل تازه

د خاص کنړ ادبي او کلتوري ټولنه

# کتاب
## د یو ښه ملګرې په توګه!!!





ترتیب او لیکنه: استاد همایون (همت)
د خیبر افغانستان خصوصي لیسې انګلیسي ژبې استاد

کتاب د انسان دوست دی او په دوستۍ کې یې هیڅ شک نشته؛ خو په ټولو دوستانو اعتبار کول هم نه دي پکار، ځکه ملګرو کې هم ښه او بد، پوه او ناپوه، یا اهل او نا اهل دوستان شته دی، ځینې دوستان یا کتابونه داسې هم وي، چې پوهه نه درکوي؛ خو هغه لرلې پوهه هم درنه اخلي یا نورې پوهې ته د بې ضرورتۍ احساس درکوي او لکه د بد عمله دوست دلارې نه دې بې لارې ته اوباسي.

د داسې کتابونو لیکونکي ذهن کې سرې ته د خپلو افکارو داسې بې مېوې تخمونه کري، چې نور مېوه لرونکي بوټي هم ورسره وده نه شي کولی، مګر داسې لیکوالان یا ملګري کتابونه هم شته، چې ذهن کې د قلبه کولو یا د فکر کولو چل در زده کوي.

ډېر کتابونه داسې هم وي، چې د عقل ورتیا لوړوي؛ خو ویده شعور ته هم د اسرافیل شپېلۍ غږوي، مګر داسې کتابونه هم ډېر دي، چې عقل ته د خوب ګولۍ وي خو شعور دې هم د فیل په غوږ کې ویده ساتي .

ځیني کتابونه لکه ځینې دوستانو سمې ډېرې خبرې کوي؛ خو خالي هسې تشې خوشې خبرې به وي،

ځینې ملګري بیا په ظاهر یا پوښ غوړ او رنګین وي، همدې غوړو او رنګونو به یې ژبې ته هم سرایت کړی وي، مطلب تشریفاتي ملګري یا کتابونه داسې

وي لکه: غوړه او خوږه حلوا؛ چې دوه درې مړۍ دې زړه ووهي او موړ دې کړي، ښه دوست هغه وي، چې کمې خبرې وکړي او ډېره معنا ولري .

ډېر داسې کتابونه هم شته، چې یو خروار عنوان به لري؛ خو د یو خورد مانا او محتوا به پکې نه وي، یا د غره غوندې موضوع به یې ملخ ته ور په غاړه کړي وي او مچ غوندې موضوع به یې په اوښ بار کړي وي.

ځینې ملګري بیا باړۍ کې لکه د توت غوندې پلن وي، خو مانا او عمل کې به د بوسو نه هم سپک وي، لکه: د یوې کڅوړې پاڼړو نه به یې لوی لوی بارونه تړلي وي او د اوښانو سره به یې ژوندي په ذهن درننه ویستل غواړي؛ خو داسې کتابونه هم شته، چې په یو لاس ګاډۍ سره یو ټېلر مانا درته ذهن کی تخلیه کوي.

د پوهانو خبره، د پاڼې تورول اسانه کار دی، خو سپینول یې هنر او مهارت غواړي؛ ځکه نو هر لیکونکي ته لیکوال نه شو ویلی، همدا ډول مذهبي ملګري یا کتابونه بیا د نورو نه ځانګړي وي، د نصیحت او مشوره ورکولو نه غیر بل څه نه لري، مفته

نصیحت او مشورې سره به هم احسان درباندې اچوي او هم به ثواب درباندې ګټي.

غوره کتاب هغه دی، چې په کلماتو سپك او په محتوا درونډ وي، هم خوند او رنګ ولري او هم په ویټامینونو ډک وي، لکه: لیکوال د بېلابېلو مېوو نه یو ګیلاس جوس زبیخلی وي هم یې شکل او هضمول اسانه وي او هم یې ګټه پریمانه وي.

سترو خلکو تل کمې؛ خو لغړې خبرې کړي وي یعنې په جامو، بڼونو او کورتۍ. ګانو یې نه وي پوښلي او مفکوره، مقصد یا مفهوم یې د لوستونکي په ذهن مستقیماً ورننویستي وي .

تشریفاتي او درباري خبرې چې تر څو ذهن ننوتو او دېره کېدو ته لباسونه اوباسي، نیکټایي او بلاپوش لېرې کوي ذهن ورنه بل خوا ته تللی وي، تشریفاتي لیکنو کې د لیکونکې فکري تمرکز ټول د خپلو خبرو او اخلاقیاتو ښودنه وي.

مطلب کتاب که د انسان انډیوال دی؛ نو انډیوالانو کې ښه او بد هم شته او یو انډیوال هم کولی شي؛ چې د چا ژوند ته یو سلو اتیا درجې تغیر ورکړي .

د کتاب په اړه د مختلفو علماؤ نظرونه:

۱ :چینایي متل: چا چې لس کتابونه ولوستل هغه لس زره میله سفر کولی شي.

۲ :ګورچ فوک : ښه کتابونه هغه نه دي، چې تنده ختمه کړي؛ بلکې ښه کتابونه هغه دي، چې زموږ تنده زیاته کړي لکه د ژوند د پېژندلو تنده.

۳ :الیوس ګلیوس : کتابونه بې غږه استادان دي.

۴ :کافکا : یو اتاق پرته له کتابه داسې دی لکه بې روحه جسم.

۵ :ګویټه: ډېر خلک نه پوهېږي، چې د مطالعې زده کړه څومره سخت کار دی ما اتیا کاله تېر کړل خو لا هم نه پوهېږم چې په کوم طرف روان یم.

٦ :تومس فونکیمپن: کله چې زه عبادت کوم نو زه خدای سره خبرې کوم خو چې کتاب لولم خدای ماسره خبرې کوي.

۷ :جین پاول : کتابونه د یو دوست په نوم لیکل شوي اوږده خطونه دي.

۸ :ګټبولډ لیسنګ : یوازې دنیا انسان نه بشپړوي که څوک غواړي، چې بشپړ شي نو د ښه لیکوال کتابونه دې ولولي.

۹ :نووالیس : کتابتون یو داسې ځای دی چرته، چې موږ د تېرې زمانې او د حال له رب النوع سره په ازاده فضا کې خبرې کولی شو.

۱۰ :جرمني متل: کتابونه د پیالو په څېر دي، چې اوبه شکل ترې باید انسانان په خپله زده کړي.

# د ذهني آرامتیا لپاره دا لس حقیقتونه ومنئ

نوم شوکت سیرت  د خیبر افغانستان خصوصي لیسې د لسم ټولګي زده کوونکی





۱-اوس چې څه لرې، دا ومنئ چې دا ډېر خلک له خدای(ج) نه په ژړا او دعا غواړي.

۲ -عمر دومره اوږد نه دی چې خاصو ورځو ته انتظار شئ، ښه ده چې د ژوند له هرې شیبې مثبته استفاده وکړئ!

۳ -په ژوند باور نشته، هېڅ دوست او ملګری مو مه خپه کوئ او له ځانه یې مه بېلوئ.

۴ -د ژوند یوه شیبه مو د بلې په څېر نه ده، اوس وخت له تېر وخت سره ډېرې توپیر لري، اوس تر پخوا ښکلی دی پدې شرط چې د اوس په اړه مو تصور ښه وي.

۵ -که هو سانه او سعادت غواړئ پر خدای(ج) توکل وکړئ، د ژوند ټولې چارې مو هغه ته وسپارئ تاسو یوازې کار او هڅه کوئ پایلې یې خدای(ج) ته پرېږدئ.

٦ -له مور، پلار، مېرمنې\خاوند، ورونو، خویندو، خپلوانو او دوستانو سره مو وخاندئ، هغوی ته مینه ورکړئ او احترام یې وکړئ حتی که هغوی مو په قدر هم نه پوهېږي، ښایي یوه ورځ مو ترڅنګ نه وي.

۷ -زړه مو په ټول وجود کې یوه پاکه او ظریفه ټوټه ده، په ګناهونو یې مه توروئ.

۸ -دنیا تل تر تله نه ده،عقایدو ته احترام ولرئ او د زړه دوازې مو د نیکو پرمخ پرانیزئ.

۹ -ښه انسان هغه نه دی چې د پاک زړه او صاف نیت خاوند وي، ښه انسان هغه دی چې خدای(ج) په رضا پسې ځي.

۱۰ -ستاسو زړه ډېرې دندې لري خو اصلي دنده د الله تعالی په مخلوقاتو کې سوچ او فکر کول دي چې دې عمل ته غوره عبادت هم ویل شوی.





# زوی ته د پلار نصیحتونه

نوم ارین خان

د خیبر افغانستان خصوصي لېسې د نهم ټولگي زده کوونکی

خپلې اوښکې پخپله پاکې کړه، هیچا ته مه په تمه کېږه،ټول لارویان دې یوازې تماشا کوي.

ژبه هډوکی نلري، لېکن دومره غښتلې ده، چې په ډېرې اسانۍ سره کولی شي یو زړه مات کړي؛خپلو خبرو ته دې پام کوه.

د هغه کسانو په اړه هېڅ فکر مکوه، چې ستا تر شا درپسې غړېږي، ځکه د هغوی ځای ستا شا ته دی، مخ ته دې ځای مه ورکوه.

کله کله الله جل جلاله ځینې کسان او ځینې شیان درنه اخلي، هېڅکله یې د بېرته ستنیدو غوښتنه مکوه،چې پښیمانه به شې، دا ومنه چې الله جل جلاله هر څه ستا په خیر کړي،دالله جل جلاله حکمت ته ځان تسلیم کړه.

زما اتیا(۸۰) کاله عمر داسې راباندې تیر شو لکه اته دقیقې عمر مې پای ته رسیدلی؛ نو پوه شه!چې دا لنډ عمر په دې نه ارزي، چې خلکو ته ازار او کړاوونه ورسوې.

نه سپین رنګ د ښایست او نه ; تور رنګ د بدرنګوالي نښه ده، کفن سپین دی ، خو ډاروونکی دی، کعبه توره ده اما مینه ناکه او زړه وړونکې ده.

که بربنډتوب د ښځې د پت او عزت نښه وای، نو بیزوګانې به تر ټولو درنې او پتمنې وای.

انسان په ښو اخلاقو ښایسته دی، نه په ظاهري بڼه،نو تل غوره اخلاق ولره.

که لوړ غږ د نارینتوب نښه وای، نو خر او سپي به د نارینو سرداران وای.

مخکې له دې چې له الله جل جلاله نه د خپل بدبختیو ګیله وکړې ، یو ځل خپل شته نعمتونه وشمېره.

انسان د عمر په وسیله نه لوېږي(غټېږي) بلکې انسان د خپل فکر په وسیله لوېږي

# په افغانستان کې د فقر د کموالی حل لارې

ليکوال: استاد پوهندوی محمد رحيم خاکسار
سيد جمال الدين افغاني پوهنتون، جغرافيې څانګه



لنډيز

بېوزلي يوه نړيواله ستونزه ده، چې د اسلام له نظره ناوړه پديده ګڼل کېږي. له بده مرغه په افغانستان کې بېوزلي له تېرو حکومتونو څخه په ميراث پاتې او ستر لامل يې د تېر اداري او غربي ښکيلاکګرو ناوړه اقتصادي پاليسۍ وي. تېرې ادارې د بېوزلۍ د کمولو لپاره هيڅ بنسټيز کار نه دی کړی، بلکې هڅه يې کړې چې په افغاني ټولنه کې غربي ډيموکراسي او ناوړه غربي فرهنګ دود کړي. د اسلامي امارت په بريا سره په هېواد کې د بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره مناسب بستر رامنځته شوی، په هېواد کې سرتاسري امنيت ټينګ شوی، شل کلن اشغال پای ته رسيدلی، فساد او مافيايي کړۍ له منځه تللې او د بېوزلۍ د منځته راوړونکو لاملونو ريښې وچې شوي دي. د څېړنې موندنې ښيي چې په هېواد کې د بېوزلي کچه د زکات، مالي کفارو او فديو په وسيله را ټيټيدای شي او د دې ترڅنګ پانګونه، د انفلاسيون مخنيوی، د کرنيز سيستم سمون، له طبيعي زېرمو ګټنه، د صنعت او توريزم پراختيا هم کولای شي، چې په هېواد کې د بېوزلۍ کچه راټيټه کړي. دا يوه توصيفي څېړنه ده، چې موخه

يې د بېوزلۍ د کمولو د حل لارو رابرسيره کول دي او ميتود يې تحليلي دي.

کليدي کلمې: بېوزلي، د بيوزلۍ لاملونه، د بېوزلۍ سره مبارزه.

سريزه

بېوزلي د يوې نړيوالې ستونزې په توګه نه يوازې افغانستان، بلکې ډېرى وروسته پاتې هېوادونه ورسره لاس او ګريوان دي. په تېرو شلو کلونو کې چې په افغانستان کې د بېوزلۍ د کمولو لپاره کومې څېړنې ترسره شوې، زياتره يې پروژه يي وي او ارزونې ښيي چې دغو هڅو د مالي او انساني سرچينو د لګښت پرته د بيوزلۍ په کمولو هيڅ اغېزه نه ده کړې، بلکې بېوزلي يې لا پراخه کړې ده. بيوزلۍ يوه نړيواله ستونزه ده، چې د نړۍ ډېرى هېوادونه ورسره مخ دي. د نړيوال بانک د راپورونو له مخې په نړۍ کې کابو له يو ميليارد څخه زيات وګړي په مطلق ډول په

بیوزلۍ کې ژوند کوي. په افغانستان کې د بېوزلۍ لوړه کچه له تېرو حکومتونو څخه په میراث پاتې ده، له همدې امله د تېرې اداري ناکامه پالیسۍ د دې لامل شوې، چې په هېواد کې د بېوزله وګړو شمېر زیات شي. سره له دې چې په افغانستان کې د بیوزلۍ په اړه زیاتې څېړنې شوې، مګر بیاهم په هېواد کې د بیوزلۍ سیوری دومره درووند دی، چې د زیاتو څېړنو د ترسره کېدو غوښتنه کوي. بېوزلي په زیاتره اسماني دینونو کې د زیان اړونکې پدېدې په توګه پېژندل شوې، له همدې امله د اسلام په سپیڅلي دین کې هم بېوزلي یوه ناوړه پدیده ده، چې اخلاقي بنسټونه ماتوي او د انساني ټولنو سلامتیا له ستونزو سره مخ کوي. له همدې امله بېوزلي د انساني تاریخ په اوږدو کې له پخوا راهیسې شتون لري او د ډېری انساني ټولنو پر وده ناوړه سیوری غوړوي او راتلونکی یې له ګواښ سره مخ کوي.

د څېړنې ارزښت

اوس مهال په نړۍ کې بېوزلي مخ په پراخیدو ده او د راپورونو له مخې په نړۍ کې کابو له یو میلیارد څخه زیات وګړي په سخته بېوزلۍ کې ژوند کوي. له همدې امله د نړۍ هېوادونه د بېوزلۍ سره مبارزه د خپلو کاري لومړیتوبونو په سرکې شاملوي. طبیعي خبره ده چې د هرې ناوړه پدیدې سره د مبارزې لپاره پراخو څېړنو ته اړتیا لیدل کېږي، ترڅو د دغه ناوړه پدیدې د مهارولو لپاره علمي او منطقي حل لارې وړاندې شي او د پراخیدو مخه یې ونیول شي. په افغانستان کې بېوزلي له پخوا زمانو را پاتې ده او پخوانیو حکومتونو ورته هیڅ پاملرنه نه ده کړې، همدا ددې لامل شوی چې په هېواد کې د بېوزلۍ کچه پراخه او د هېوادوالو ژوند له ګواښ سره مخ شي. له همدې امله په هېواد کې د بېوزلۍ کچې د کمولو لپاره زیاتو علمي څېړنو ته اړتیا ده، ترڅو وکړای شي، په هېواد کې د بېوزلۍ د کمولو علمي او منطقي لارې په ننبه کړي او همدا د څېړنې ارزښت څرګندوي.

د ستونزې بیان

څرګنده ده، چې بېوزلي لکه د نورو ټولنیزو پدیدو په څېر د ځانګړو شرایطو تر اغېز لاندې رامنځته کېږي، که اړوند شرایط شتون ونه لري، د یوې ټولنیزې پدیدې په توګه د بېوزلۍ راڅرګندیدل ناشوني دي. په کومو ټولنوکې چې وګړي د بیوزلۍ څخه اغېزمن وي، په واقعیت کې په هغو ټولنوکې د بېوزلۍ د پراختیا لپاره له پخوا څخه شرایط برابر شوي وي، چې په پایله کې په بېوزلۍ کې زیاتوالی منځته راځي. پرهمدې بنسټ بېوزلي یوه پراخه موضوع ده، چې څو اړخیزه څېړنو ته اړتیا لري، له

همدې امله په افغانستان کې بېوزلي له څو لسيزو راهيسې شتون لري او د پخوانيو دولتونو نه پاملرنه ددې پديدې د پراخيدو لامل شوې او د له منځه وړلو لپاره يې هيڅ ډول علمي او منطقي حل لارې نه دي وړاندې شوي، چې همدا د څېړنې ستونزه جوړوي.

## د څېړنې موخې

۱. په اسلام کې د بېوزلۍ د کمولو د حل لارو رابرسيره کول

۲. د بېوزلۍ سره د مبارزې د ټولنيزو او اقتصادي لارو چارو پېژندنه

۳. د بېوزلۍ پروړاندې د اسلامي امارت د پاليسيو ارزونه

## د څېړنې پوښتنې

۱. په اسلام کې د بېوزلۍ سره د مبارزې اغېزمنې حل لارې کومې دي؟

۲. د بېوزلۍ سره د مبارزې ټولنيزې او اقتصادي لار چارې کومې دي؟

۳. ايا د بېوزلۍ پروړاندې د اسلامي امارت پاليسۍ اغېزمنې دي؟

## د څېړنې مخينه

په اوسنۍ نړۍ کې بېوزلي په يوه ځانګړي هېواد پورې محدوده نه ده. له بده مرغه د نړۍ په ډېرى هېوادونو په تېره بيا په وروسته پاتي هېوادونوکې، بېوزلي يوه ناوړه پديده ده، چې د ډېری انسانانو ژوند له ستونزو سره مخ کوي، له همدې امله ددې ناوړه پديدې د څېړنې د ارزښت او اړتيا له امله په دې وروستيوکې د بېوزلۍ د کمولو په اړه نسبتاً پراخه څېړنې شوي، چې دلته ترې په لنډ ډول يادونه کوو.

په قرانکريم کې د بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره پر مسلمانانو د زکات، صدقې، سرسايي، مالي کفارو او د فديې د ډولونو د ورکړې امر شوی او د دې ترڅنګ اسلامي ټولنه له اسراف، تبذير، بخل، حرص او سستۍ څخه منعه شوې ده. همدارنګه د نسلونو ترمنځ يې د ټولنيز عدالت د ساتلو لپاره، د ميراث په ورکړې ټينګار کړی دی. د څېړنو پايلې څرګندوي، چې د اسلامي حکومت له خوا د زکاتونو او صدقاتو راټولول، کولای شي، د بېوزلۍ د کچې په کمولو کې مرسته وکړي (پرستش، ۱۳۸۷،م. ۱۵).

مک سي نلسون په ۱۹۹۵م کال کې د يوې څېړنې په ترځ کې دې پايلې ته رسيدلی چې د انساني پانګې نشتوالی د يوه مهم فکټور په توګه د بېوزلۍ د رامنځته کېدو لامل کېږي (نلسون، ۱۹۹۵). همدارنګه نايت او سابوت په ۱۹۸۳م کال په تانزانيا او کينيا هېوادونو کې د معاشونو د نابرابرۍ په اړه د زده کړې د کچې د لوړولو اغېزې څېړلې. دوی وموندله څومره چې د روزل شويو او لوستو

کارګرو عرضه زیاتیږي، ورسره جوخت د بېوزلۍ کچه هم راټیټیږي (نایت او سابوت، ۱۹۸۳،م. ۴).

بهر په ۲۰۰۴م کال د امریکا په ۵۰ ایالتونو کې د بېوزلۍ او د عاید پر وېش د پوهنې د لګښتونو د اغېزو په اړه څېړنې کړي. هغه دې پایلې ته رسېدلی چې د هر زده کوونکي د عمومي زده کړو لګښتونو د بېوزلۍ په کمولوکې مرسته کړې ده (Behr, 2004. همدارنګه څېړنې په ګوته کوي چې د بېوزلۍ د کچې د کمولو لپاره سیاسي اراده او ژمنتیا مهمه اړتیا ده او ټول هغه لاملونه چې د بېوزلۍ د کمولو باعث ګرځي، د دولتونو په سیاسي ارادې او ژمنتیا پورې اړه لري (غفاري،۱۳۹۳، ۲۲۵).

د څېړنې میتود

په دغه مقاله کې له توصیفي - تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې، چې معلومات یې له بېلابېلو سرچینو لکه: له کتابونو، مجلو، ژونالونو او نورو راټول، تحلیل او تجزیه شوي او موخه یې په هېواد کې د بېوزلۍ د کمولو د حل لارو رابرسیره کول دي.

## د بېوزلۍ مفهوم

د نړۍ په ادبیاتوکې بېوزلي په بېلابېلو معناګانو سره بیان شوې، د نړۍ په قاموسونوکې بیوزلي د لاس تنګوالي، د لاس تشوالي، اړمن او ناداری ته ویل کېږي. د نړیوال بانک له نظره د افرادو، کورنیو یا ټولنې کمزورتیا چې ونه شي کړای د خپلو لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره سرچینې ترلاسه کړي، بېوزلي ګڼل کېږي (عرب زاده، ۱۳۸۳،م. ۴۵).

بېوزلي یو داسې مفهوم دی چې په لنډه توګه پرې پوهېدل ګران کار نه دی، خو په مناسب او عملي ډول یې بیانول، سخت کار ګڼل کېږي، له همدې امله بېلابېل پوهان په خپلو څېړنوکې د بیوزلۍ بېلابېل تفسیرونه وړاندې کوي (عظیمی، ۱۳۷۵،م. ۴۳). که مونږ هغه څېړنو ته پام وکړو چې د بېوزلۍ په اړه ترسره شوي، لیدل کېږي چې د بېوزلۍ د ځانګړي مفهوم په اړه عمومي توافق شتون نه لري. هغه څه چې معمولاً د تعریف په توګه وړاندې کېږي، د عمومي تعریف بڼه لري، چې د مختلفو او بې شمېره بېلګو او مصادیقو سره تشریح کېږي. د بېوزلۍ ترټولو عام تعریف دا دی، چې د بېوزلۍ سره مخ وګړي د مناسب ژوند د اداره کولو وړتیا ونه لري. بېوزلي د ناکافي تغذیې، د کوچنیانو د مړینې د لوړې کچې، د ژوندانه د هیلې کموالي، لږ ښوونیز فرصتونه، د څښاک پاکې اوبه، ناکافي روغتیایي خدمتونه، نامناسب استوګنځي او داسې نورو په معنا ده (شوبرت، ۲۰۰۵،م. ۸۵). د اسلام سپېڅلي دین له نظره بېوزلي د انسان د ژوند او بدن د روغتیا او ژوند د دوام لپاره د خوراک، پوښاک، سرپناه او درملنې د اړتیا یوه اندازه ده، که دا اندازه ورته برابره نه شي، د ژوند او بدن روغتیا له ګواښ سره مخ کوي (پژوهشکده، ۱۳۷۹،م. ۱۱۸).

الف. د بېوزلۍ د کمولو ديني لارې چارې

بې له شکه د بېوزلۍ مسئله يو له مهمو مسئلو څخه ده، چې نه يوازې په سيمه ييزه کچه، بلکې په نړيواله کچه يې هم د وګړو پام ځانته اړولی. څرنګه چې بېوزلي تل د تاريخ په اوږدو کې د انسان د ټولنيز ژوند سره مل ده، د بېوزله وګړو د لاسنيوي او مرستې مسئله هم په انساني ټولنوکې اوږده مخينه لري. له همدې امله هغه وسيلې چې په بېلابېلو ټولنو کې د بېوزلۍ د ناوړه پديدې د کمولو لپاره کارول کېږي، په تېره يوه پېړۍ کې يې زياته تنوع موندلې ده (مرکز ملی تحقيقات پاليسی، ۱۳۸۷،م. ۲۰).

شل کاله پخوا په افغانستان کې د لويديځو هېوادونو په مرسته غربي ډوله حکومتي موډل رامنځته شو، په فساد کې ککړ شو او د بېوزلۍ سره يې هيڅ مبارزه ونه کړه، بلکې بېوزلي يې نوره هم پراخه کړه. سره له دې چې په تېرو شلو کلونو افغانستان ته په ميلياردونو امريکايي ډالر راغلل، خو له بده مرغه دغه بې دريغه ډالرو په هېواد کې د بېوزلۍ د کمولو سره هيڅ مرسته ونه کړه، بلکې د بېوزلۍ لمن يې لا پراخه کړه. له همدې امله د ٦٠ غير دولتي سازمانونو څېړنې ښيې چې په افغانستان کې د لويديځ مالي مرستې د بېوزلۍ او ټولنيزې نابرابرۍ د زياتوالي لامل شوې، ځکه چې دا ډول مرستې په هېواد کې د ناوړه اقتصادي پاليسيو په پلي کېدو پورې تړلې وې، يا دا مرستې د تمويل کوونکو هېوادونو څخه د توليداتو د وراد کېدو په بدېلونو پورې مقيدې مرستې وې. له همدې امله څېړونکي استدلال کوي چې د بهرنيو مرستو ډېره برخه د مفسدو چارواکو له خوا غلا شوې او د مرستو دغه لوړه کچې په افغانستان کې د حکومتولۍ کيفيت هم له منځه وړی دی (مرکز ملی تحقيقات پاليسی، ۱۳۷،م. ۲۰). همدا بې دريغه مرستې د دې لامل شوې، چې په هېواد کې اداري فساد، مافيايي کړۍ او د عام ولس بې باوري رامنځته کړي او په دې توګه د بېوزلۍ څپه لا سخته کړي. له بده مرغه تېرې اداري د بېوزلۍ د کمولو حل لارې د غربي فرهنګونو، پاليسيو او ستراتيژيو په پلې کېدا کې ليدلې، په داسې حال کې چې د اسلام سپېڅلي دين د بېوزلۍ د له منځه وړلو په اړه داسې لارښوونې کړي، که پلې شي، له اسلامي نړۍ څخه به د بېوزلۍ ټغر ټول او وګړي به هوسا ژوند ولري.

د بېوزلۍ د کمولو لپاره په قرانکريم، نبوي احاديثو او حنفي فقه کې بې شمېره احکام راغلي، چې د ټولنې فرد فرد د بېوزلۍ سره په مبارزه مکلف کوي. که هر مسلمان شتمن خپل زکاتونه، سرسايې، فديې، صدقې او خيراتونه په سم ډول ورکړي او د اسلامي حکومت له لوري په سم ډول راټول او مديريت شي او د يوې علمي کړنلارې له مخې د بېوزلۍ د کمولو لپاره وکارول شي، نو په اسلامي ټولنه کې به د بېوزلۍ کچه راټيټه شي. د اسلام سپېڅلي دين د بېوزلۍ د کمولو لپاره ځيني

لارې چارې وړاندې کړي، چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو.

۱. زکات: په قرانکريم کې په ځلونو د لمونځ ترڅنګ د زکات يادونه شوې او رسول الله صلی الله عليه وسلم زکات د اسلام بنسټيز رکن بللی دی. زکات هغه پراخه پروسه ده، چې د سرو زرو، سپينو زرو، پيسو، څارويو او کرنيزو محصولاتو په ګډون د مسلمانونو د نغدو پيسو او شتمنيو ويش دی، چې بايد بېوزله وګړو ته د دوی د حق په توګه په دوامداره توګه (هر کال) وويشل شي. زکات په اسلامي اقتصادي نظام کې د وېش تر ټولو مهمه برخه ده، که په رښتيا سره د اسلامي حکومت له خوا په عادلانه توګه راټوله او وويشل شي، نو د بېوزلۍ کچه به راکمه شي(راشد، عبدالباري، ۱۳۹۷،م. ۵). د يوې اټکلې محاسبې له مخې که په هېواد کې ۱۰ ميليون وګړي د زکات نصاب ولري، پاتې نور شل ميليون وګړي د منځني اقتصادي پوښښ لاندې راوستلی شي (راشد، عبدالباري، ۱۳۹٦،م. ۴۱). څرګندېږي چې زکات هغه مالي عبادت دی چې له ادا کولو پرته يې نه څوک مسلمانېدای شي او نه هم په دې لويه اسلامي ټولنه کې شاملېدای شي. له همدې امله زکات هغه وسيله ده چې د بېوزلو، معلولينو او کمزورو وګړو لاسنيوی پرې کېږي، کمزورو وګړو ته ځواک او ناهيلي وګړو ته نوې هيلې ورکوي او په يوه اسلامي ټولنه کې د بېوزلۍ د کمولو ترټولو اغېزمنه وسيله ده. د شتمنو وګړو په شتمنۍ کې د بېوزله وګړو ټاکلې برخه ده او د همدې برخې نوم زکات دی، چې په اسلامي شريعت کې يې اندازه معلومه ده، الله ج ټاکلې او د عدل پربنسټ ولاړه ده. له نيکمرغه د اسلامي امارت په برېا سره په هېواد کې د عشر او زکات يوه څانګه فعاله شوې، چې د زکات د راټولولو او ويش دنده پرغاړه لري او همدا د بېوزلۍ سره د مبارزې غوره لاره ده.

۲. د فطر صدقه (سرسايه): د فطر صدقه د اسلام په اقتصادي نظام کې د توکو يا پيسو وړيا ويش دی، چې بايد بېوزله وګړو ته ورکړل شي. محاسبه وکړئ، که زمونږ د عصر د شاوخوا دوه ميليارد مسلمانانو له ډلې څخه يو نيم ميليارد مسلمانان د روژې په مياشت کې روژه ونيسي او هر يو لږ ترلږه ۵۰ افغانۍ د فطر صدقې په توګه ورکړي، ټوله اندازه به يې ۷۵۰۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ شي. کله چې دا شمېره په ۷۰ وويشو، نو ۱۰۷۱۴۲۸۵۷۱ ډالره کېږي او که دا ډالر په هر بېوزله وويشل شي، نو ۲۰ ډالره به د ځمکې پرمخ ۵۳۵۷۱۴۲۸ تنو بېوزلو ته ورسيږي (راشد، ۱۳۹۷، م. ۱۵). له همدې امله ويلی شو، چې د فطر صدقه هغه مهمه وسيله ده، چې د بېوزلۍ د کچې په کمولو کې اغېزمن رول ترسره کوي، که دا اندازه پيسې په سم ډول را ټولې او اړمنو ته ورکړل شي، له شک پرته په اسلامي نړۍ او په تېره بيا په افغانستان کې به هيڅ بېوزله پاتې نه شي.

۳. اسلامي بیت المال: بیت المال هغه ځای ته ویل کېږي، چې هلته د مسلمانانو پورې اړوند عمومي مالونه راټول او ساتل کېږي، ترڅو په عمومي مصالحو کې په مصرف ورسول شي. د اسلام په سپېڅلي دین کې د بېوزلۍ د کمولو بله مهمه وسیله بیت المال دی. د اسلامي حکومت دولتي خزانه چې د عوایدو خپلواکه سرچینه یې زکات دی، د خپلو نورو خپلواکه وسیلو سره یو ځای د بېوزلۍ د کمولو لپاره کارېدای شي، ځکه د اسلامي حکومت ملکیتونه او د بیت المال ټولې وسیلې د اړمنو وګړو لپاره وقف وي او له دې لارې به د بېوزلو لاسنیوی کېږي (القرضاوی، ۱۳۸٦ق،م. ۱٦۹).

۲. کار او حرکت: د اسلام په سپېڅلي دین کې هر وګړی هڅول شوی، ترڅو کار او حرکت وکړي او هیڅکله له خوارۍ او زیار ګاللو تېښته ونه کړي او په خپل چاپېریال کې په حرکت کولو سره حلاله روزي ترلاسه کړي، له همدې امله د اسلام سپېڅلي دین کې د حلالې روزۍ ګټل عبادت ګڼل کېږي. خواري، سختې، حرکت او کار هغه وسیله ده، چې انسان پرې شتمنې پیدا کوي، ویجاړې ځمکې ابادوي او د بېوزلۍ پرړاندې بریا ترلاسه کوي. د قرانکریم بې شمېره مبارک ایتونه او نبوي احادیث د وګړو پرکار، زیار، حرکت او سختۍ ګاللو ټینګار کوي (القرضاوي، ۱۳۸٦ق).

۴. صدقه او خیرات: د بېوزلو حقونو ته د قانوني حیثیت ورکولو سره، اسلام له پېله همدا هڅه کوي چې د انسان او په ځانګړي توګه د مسلمان دننه د خیر غوښتنې او سخاوت داسې جذبه را پیدا کړي، چې له غوښتنې زیات د څه ورکولو میلان ولري او د هغه هوډ دومره ځوان وي چې له غوښتنې پرته د هغه دننه د ورکړې جذبه راوپارېږي او پر خپل ځان نورو ته ترجیح ورکړي، که څه هم خپله اړمن وي، د هغه په فکر شتمنې منزل نه، بلکې وسیله وي. له همدې امله د اسلام سپېڅلي دین د خیراتونو او صدقاتو ورکړې ته انسانان هڅولي او د بخل او شومتیا بدې یې بیان کړې ده. که شتمن په سم ډول خپل خیراتونه، صدقې او هدیې ورکړي، په اسلامي ټولنه کې به د بېوزلۍ ریښې وچې شي.

۵. په ځان کې بدلون: په قرانکریم کې الله ج فرمايلي: په یقین سره الله ج د یوه قوم په حالت کې بدلون نه رامنځته کوي، ترڅو هغوی په خپلو نفسونو او ځانونو کې بدلون را نه وړي، تقوا خپله نه کړي، له بخل، کینې، ځان ځانۍ او یو د بل له زغملو ځان ونه ژغوري او د یو بل سره همکاري ونه کړي، نو الله ج ورسره مرسته نه کوي.که یو قوم او ملت کې د ځان د بدلون احساس نه وي، نو مالي او نورې سکټورې مرستې به په اوږد مهال کې د دوی پرځان بسیا کېدو هلې ځلې، نه یوازې پیاوړې نه کړي، بلکې دوی به نور هم سست، مفت خواره او لټان کړي (رسولی، ۱۳۹۷،م. ٦). پرهمدې بنسټ ویلی شو چې د هر

افغان انساني، ديني او ملي دنده ده چې د يوه بسيا او هوسا ټولنې د رامنځته کولو هڅې وکړي، ترڅو د بهرنيو دښمنانو له لاسوهنو خوندي پاتې شو، نو پکار ده چې هر وګړی، کلی، ټولنه، قوم، سيمه، دولتي او نادولتي سازمانونه د وګړو د بېوزلۍ د کمولو لپاره په رېښتيني ډول ګډ کار وکړي.

## ب. ټولنيزې او اقتصادي حل لارې

د بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره ټولنيزې او اقتصادي لارې چارې هم اغېزمنې ثابتېدای شي او کولای شي، چې په هېواد کې د بېوزلۍ ناوړه پديده کنټرول کړي، چې په لاندې ډول يې ذکر کوو.

۱. د اقتصادي نظام بدلون: په تېرو شلو کلونو کې په افغانستان کې د ازاد بازار اقتصادي نظام د افغانانو پر اوږو بار شوی و، چې دا په حقيقت کې د لويديځ او د هغوی د ملاتړو يوه تحميلي پريکړه وه چې د بېوزله افغانانو په اوږ يې بار کړې وه. اقتصادي نظام بايد د اړتياوو او اقتصادي ودې پربنسټ وټاکل شي، له همدې امله دغه اقتصادي نظام د هېوادوالو ټپونو ته پټۍ نه شوه، بلکې په هېواد کې يې مافيايي نظام رامنځته کړ. د ازاد بازار اقتصادي موډل چې له غرب څخه را وارد شوی و او د افغانستان له واقيعتونو سره يې سمون نه درلود، د بېوزلۍ د پراخيدو لامل شو. پکار ده چې د هېواد اقتصادي نظام په مخلوط اقتصادي سيستم بدل او په دې توګه د بېوزلۍ سره مبارزه وشي او ترڅنګ يې د دولتي تصديو بيارغونې او د کورنيو توليداتو ملاتړ ته لومړيتوب ورکړل شي، دا به د بېوزلۍ په کمولوکې مرستندوی شي (غياثي، نظام الدين، ۱۳۹۹).

۲. پانګونه: د اسلامي امارت په بريا سره په هېواد کې سرتاسري امنيت ټينګ شوی او د هېواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د پانګونې لپاره مناسب بستر رامنځته شوی، له همدې امله يوازينۍ لار چې اقتصادي ودې ته لاره هواروي، هغه پانګونه ده. پکار ده چې کورني او بهرني پانګوال وهڅول شي، ترڅو په مختلفو برخوکې پانګونې وکړي او دا کار به افغانستان د وارداتي هېواد پرځای پرصادراتي هېواد بدل او له دې لارې به دولت ډېرې عوايد ترلاسه کړي، کاري فرصتونه به رامنځته، د بېکارۍ کچه به ټيټه او د بېوزلۍ څپه به نرمه شي.

داچې په افغانستان کې د سواد کچه ټيټه ده، د بېوزلۍ د کمولو لپاره بايد پر انساني سرچينو پانګونه وشي، د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو ته بايد ځانګړې بوديجه تخصيص شي او ټولو هېوادوالو ته د زده کړو زمينه برابره شي. همدارنګه د بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره د حرفوي زده کړو پراختيا هم کولای شي چې په هېواد کې د بېوزلۍ کچه راکمه کړي. څېړنې په ګوته کوي، چې ښوونه او روزنه د يوې ټولنې د انساني پانګې اندازه ټاکي او د بېوزلۍ په کمولوکې بنسټيز رول لري، ځکه چې د يوه تن د زده کړې د کچې لوړوالی، د هغه د عايد ورتيا زياتوي. د دې برعکس

که کاري ځواک ټيټې زده کړې او مهارتونه ولري، کېدای شي، چې له پراخې بېوزلۍ سره مخ شي (حسن زاده،م. ۱۵۱). پکار ده چې د ټولنې د اړمنو وګړو د وړتیاوو د لوړاوي لپاره د بېوزلۍ د کمولو د پروګرامونو د پلي کېدا لپاره له شته وسايلو څخه ګټه واخیستل شي. په يوه ټولنه کې د ژوندانه د مهارتونو او متشبثينو د وړتیاوو لپاره د ښوونیزو شاخصونو په پام کې نيولو پرته، دا شونې نه ده چې د بېوزلۍ د کمولو موخې په سمه ډول ترلاسه شي (قايدي، ۱۳۸۷،م. ۵۱).

۳. د کرنيز سکټور وده: دکرنې وزارت او نور بنسټونه چې په دې برخه کې کار کوي، بايد داسې پلانونه پلې کړي، چې له يوې خوا د وچکالۍ د زيانونو په کمولوکې مرسته وکړي او له بل پلوه د کرنې او مالدارۍ د کمي او کيفي ودې لامل شي. د هېواد ۸۰ سلنه وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي او دې برخې ته زياته پاملرنه کولای شي چې په هېواد کې د بېوزلۍ کچه راټيټه او غذايي خونديتوب رامنځته کړي. له بده مرغه په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان د کرنې په برخه کې د میلیونونو ډالرو په پانګونې سره هيڅ پرمختګ نه ليدل کېږي او اوس هم زمونږ کرنيز سيستم د اوستايي دور له کرنيز سيستم څخه استازولي کوي او زمونږ کرنيز سيستم دومره کمزوری او دوديز دی چې کورنۍ اړتیاوې نه شي پوره کولی، که په دې سکټور کې له نوښتونو او نويو ميتودونو څخه کار واخیستل شي او دا سيستم عصري او پیاوړی شي، له شکه پرته په هېواد کې به د بېوزلۍ کچه راکمه کړي.

۴. د توريزم پراختيا: افغانستان د توريزم صنعت د پراختيا لپاره غوره شونتياوې او فرصتونه لري او پکار ده چې د توريزم صنعت ته پراختيا ورکړل شي. اوس مهال په نړۍ کې پر بېکارۍ او بېوزلۍ د غلبې مهم وسيله د توريزم پراختيا ګڼل کېږي. څېړنې ښيي چې په نړۍ کې له هرو نهو تنو څخه يوتن د توريزم په اړوند کړنو بوخت دی (ګی، ۱۳۸۲.م. ۲۶۴). همدارنګه يوې سيمې ته د ۲۰ تنو ګرځندويانو په راتګ سره يو شغل او د هر شپږو تنو په راتګ سره په مستقيم او نامستقيم ډول يو شغل رامنځته کېږي (Sivas’s, 1999). له نيکمرغه په افغانستان کې د اسلامي امارت په بريا سره د توريزم د پراختيا لپاره مناسب شرايط رامنځته شوي او د سيلانيانو په شمېرکې هم زياتوالی منځته راغلی دی.

۵. د انفلاسيون مخنيوی: دا يو ډول اقتصادي اصطلاح ده او هغه حالت ته ويل کېږي، چې په پايله کې يې د توکو او خدماتو د قيمتونو کچه په پرله پسې او دوامداره توګه په ځانګړې زماني دوره کې (معمولاً يو کال) لوړه شي. پرهمدې بنسټ د انفلاسيون د کچې کنټرول د بېوزلۍ په کمولو کې مرسته کولای شي. له نيکه مرغه د اسلامي امارت په بريا سره په هېواد کې د پيسو د انفلاسيون مخه نيول شوې او تر ډېره بريده د توکو او خدماتو بيې هم کنټرول او راټيټې شوې، چې په سيمه کې ساری نه لري.

۵. د پرمختللو هېوادونو له تجربو ګټه اخیستنه: د بېوزلي پروړاندې مبارزه د بشر پرمخ ګډه، تلپاتې او مهمه مسئله ده، له همدې امله د بېوزلۍ د له منځه وړلو لپاره ګډ کار ته اړتیا لیدل کېږي او په دې برخه کې د نړۍ د پرمختللو هېوادونو او په ځانګړي ډول د چین او مالیزیا هېوادونو له تجربو څخه ګټه اخیستنه ډېره اړینه ده، ځکه چې چینایان له اوږدې بېوزلۍ سره مخ وو. د چین حکومت د اصلاحاتو په پلي کولو سره د ۴۰کلونو د مبارزې په پایله کې ۸۵۰ میلیونه بېوزله وګړي له سختې بېوزلۍ څخه وژغورل، ان تردې چې د چین څو میلیونه علمي کادرونه د بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره غرنیو سیمو ته تللي وو، چې دا د نړۍ په تاریخ کې بې ساری اقدام و. له همدې امله حکومت ته پکار ده چې په هېواد کې د بېوزلۍ د کابو کولو لپاره د چین هېواد له تجربو څخه کار واخلي او په دې توګه د بېوزلۍ مخه ونیسي.

۴. د سوالګرو راټولول: د بېوزلۍ سره د مبارزې یوه لار له ښارونو څخه د بیوزلو او سوالګرو راټولول هم اغېزمن ګام ګڼل کېږي. د اسلامي امارت له بریا وروسته د هېواد په سترو ښارونو کې د بېوزله او سوالګرو د راټولولو لړۍ پیل شوې، چې د ستاینې وړ ده. د راپوروونو پربنسټ تردې دمه یوازې د کابل ښار له شاوخوا سیمو څخه کابو ۷۴۰۰ تنه سوالګر راټول شوي او في تنه ته په میاشتني ډول ۲۰۰۰ افغانۍ د مرستې په توګه ورکول کېږي او دا لومړی ځل دی، چې په هېواد کې د بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره دا اقدام ترسره کېږي. د دې ترڅنګ د سوالګرو کوچنیانو لپاره هم د زده کړې زمینه برابره شوې او هغه کوچنیان چې واقعاً بېوزله وي، یو اندازه معاش هم په پام کې نېول شوی دی (https://pajhwok.com).

مناقشه

د بېوزلۍ ناوړه پدیده په بېلابېلو ټولنو کې د ځانګړو شرایطو تر اغېز لاندې رامنځته کېږي، که اړوند شرایط شتون ونه لري، د یوې ټولنیزې پدیدې په توګه یې را څرګندیدل ناشوني دي. له همدې امله بېوزلي په هغو ټولنو کې وده کوي، چې د بېوزلۍ د رامنځته کېدو او ودې لپاره مناسب بستر ولري. په تېرو شلو کلونو کې په افغانستان کې د بېوزلۍ ستر لاملونه غربي ناوړه اقتصادي پالیسۍ، ناامني، اداري فساد او مافیایي کړۍ وي، چې د اسلامي امارت په بریا سره دغه لاملونه په بشپړ ډول له منځه تللي او په تېرو څېړنو کې د دغو لاملونو په له منځه وړلو ټینګار شوی و (مرکز تحقیقات، ۱۳۸۷،م. ۸). سره له دې چې دغو څېړنو تر زیاته بریده پروژه یي بڼه درلوده او د ستونزې اصلي حل یې په نورو فرهنګونو کې ترڅېړنې لاندې نیوه او

یوازې یې د انساني او مالي سرچینو د لګښت پرته، بله هیڅ مثبته پایله نه درلوده، له همدې امله دا څېړنه د پخوانیو څېړنو سره توپیر لري، ځکه چې په دې څېړنه کې د بېوزلۍ د کمولو لپاره د زکات، فدیې، سرسایې او صدقاتو په ورکړې ټینګار شوی او ددې ترڅنګ په دې څېړنه کې پر پانګونه، د کرنیز او صنعتي سیستم پر وده، د توریزم پر پراختیا، د انفلاسیون پرمخنیوي او د سوالګرو پر راټولولو تمرکز شوی او دا حل لارې کولای شي، چې په هېواد کې بېوزلي راکمه کړي.

## پایله

د دې څېړنې په پای کې دې نتیجې ته رسېږو، چې بېوزلي یوه ناوړه پدیده ده او د نړۍ هیڅ هېواد ترې خوندي نه دی او په ټولو فرهنګونو کې ناوړه پدیده ګڼل کېږي، له همدې امله د اسلام په سپېڅلي دین کې هم بېوزلي یوه مذمومه پدیده ګڼل شوې او د له منځه وړلو لپاره یې پر ځانګړو میکانیزمونو ټینګار شوی او اسلامي ټولنه یې د دې پدیدې سره د مبارزې لپاره په ګډ کار مکلفه کړې ده. د څېړنې موندنې ښیي چې په افغانستان کې د بېوزلۍ پراختیا د تېرې ادارې او د غربي ښکیلاکګرو ناوړه اقتصادي پالیسۍ وي، چې دا پدیده یې پراخه کړه. همدارنګه د څېړنې موندنې ښیي چې په هېواد کې زکات، سرسایه، فدیې، صدقات او داسې نورې وسیلې د بېوزلۍ په کمولوکې اغېزمن رول لري او پکار ده، چې په هېواد کې د عشر او زکات د راټولولو لپاره جدي ګامونه پورته شي او د یوې علمي ستراتیژۍ له مخې راټول او پر بېوزلو وویشل شي. د څېړنې موندنې څرګندوي، چې په هېواد کې د پانګونې او توریزم د ودې لپاره مناسب بستر رامنځته شوی، له همدې امله د بېوزلۍ کچې د کمولو لپاره د پانګونې او د توریزم صنعت پراختیا ته جدي اړتیا ده، ترڅو کورني او بهرني پانګوال او ګرځندویان وهڅول شي او له دې لارې زیات عواید، کاري فرصتونه او زمینې برابرې شي.

## وړاندیزونه

۱. حکومت باید د مناسب عاید په لرلو سره بېوزله وګړو ته د کار زمینه برابره کړي.

۲. د لوړو، حرفوي او مسلکې زده کړو د پراختیا لپاره دې جدي ګامونه پورته شي.

۳. د بېوزله کورنیو لپاره دې د کوچنیو پورونو د ورکړې زمینه برابره شي.

## ماخذونه

آذری، مسعود گلدوست و همکاران. نقشه راه مبارزه با فقر در چشم انداز توسعه جوامع روستایی. ایران: دانشگاه ازاد اسلامی.

پرستش، نسرین(۱۳۸۷). پدیده فقر و نابرابری اجتماعی. ایران: مجله اقتصادی، شماره ۷۹ و۸۰.

پژوهشکده حوزه دانشگاه (۱۳۷۹). مبانی اقتصاد اسلامی.

حسینی، سید اسحق (۱۳۷۵). سمینار کاهش فقر روستایی. ایران: نشریه جهاد، شماره ۱۹۶- ۱۹۷.

شوبرت. فقر در کشورهاي در حال توسعه. مترجم: تیمور محمدي؛ مجله برنامه و بودجه؛ شماره۲.

راشد، عبدالباری (۱۳۹۷). توزیع نعمات مادی در نظام اقتصادی اسلام. کابل: اریانا، شماره ۴۲۹.

راشد، عبدالباری (۱۳۹٦). ضرورت جمع آوری زکات و نقش آن در ازدیاد عواید دولت. کابل: آریانا، شماره ۴۲٦.

عرب زاده، عباس(۱۳۸۳). برآورد میزان فقر و شدت آن. ایران: نشریه اقتصاد کشاورزی و توسعه، شماره ۴۵.

عمران لمر(۱۳۹۹). په اسلام کې د فقر درملنه. کابل: بیت الحکمه خپرندویه ټولنه.

علی، حسن زاده. بررسی عوامل موثر بر فقر. ایران: فصلنامه پژوهش های اقتصادی.

عظیمی آرانی، حسین(۱۳۷۵). تحلیل محتوایی از پدیده فقر.تهران: نشریه جهاد، شماره ۱۹٦-۱۹۷.

عوامل فقر در افغانستان (۱۳۸۷). کابل: مرکز ملی تحقیقات پالیسی.

قایدی، عزت الله(۱۳۸۷). نظام اجرایی توانمندسازی محرومان. ایران: کمیته امداد رسانی.

گی، چاک، وای (۱۳۸۲). جهانگردی و چشم اندازی جامع. مترجم: علی پارسیاییان، تهران: دفتر پژوهشهای فرهنگی.

**Shiva's, Edith et al) .1999 .(Tourism employment during economic.**

**Behr, Todd (2004); «The effects of state public k-12 education expenditures on income distribution»; National Education Association (NEA) Research working paper.**

**Bluestone, Barry (1990); «The impact of schooling and industrial restructuring on recent trends in wage inequality in the United States»; The American Economic Review, No.2, PP. 303-307.**

# ستورو کاروان

### شاعر نصرت وفا

ما وپـــــــــــــیژنده ټوله زمانه د خــدای بنده
چې رایې کـــــړه دوکې پسې دوکه د خدای بنده

ته څو ځل په وعدو کې بې وعدې شــولې خو بیا
چې ودې کړه د بیا راتلو وعده د خـــــــدای بنده

ًپیدا مې نه کړه داسې نمونه د خـــــــدای بنده
کېسه ترې نه اوږده شوله اوږده د خـــــــدای بنده

ته داسې خود اختیاره یې چې هر وخت ځه راځه
رامنده کړه! راوخانده! راځه د خـــــــدای بنده

پوهیږمــــــه نصرت به د ساقي سره میلمه وي
ته ورـــشه پسې لټ کړه مېکده د خدای بنده

## غزل

### عرفان الـله کوټوال

ایوبي سلاح الدین ته شرمنده یي مسلمانه!
دخواهش په لذتونو کې اخته یي مسلمانه!
خوېندې مېندې مو په سرو وینو لتاړ دي
نو د یوه بدن بیا څرنگه ؟ ټکړه یي مسلمانه!
ماشومان مو په غزه کې قتل عام شو
په روغتون کی دبمونو خوراکه یی مسلمانه!
ستا ضمیر په کوم افیون دی نشه شوی!
چې د ځان دقتل عام په ننداره یي مسلمانه!
چې خالق د کایناتو ته ازاد یي پیدا کړی
په ځنځیر د غلامۍ ولی حلقه یي مسلمانه!
که هر څومره بې غیرته شې احتیاط کې
نو په پاي کې د مرگ یوه لقمه یی مسلمانه!
ستا په ټولو بې پامېو کتابونه لیکل کیږي
څارل کیږي،لیکل کیږي یوه نقطه یي مسلمانه!
مسلمانه; مسلمان یمه کوټوال یمه حیران یم
ترڅو به ته دخپل مذهب تانه یي مسلمانه!

## د زړه زخمونه

**شفق مومند**

زمـــــــا د زړه زخمـــونه مه رغوئ
په تنهـــایی کـــــې مې په کار راځي
ما تـــــــه د مینې ضرورت دی جوړې
مــــــــــا له په نه خبره قار راځي
اوښکې به توی کړم چې سپرلی رادرومي
باران دې وورېـــــــــږي یار راځي
تا حال د خپل لېوني وانـــه خیســـــتو
خلک تپـــوس له د بیمـــــــار راځي
کلي نه کړیکـــــــې د زړه سـویو خېژي
نری نــــــری لوګی له ښار راځـــــي
له کاڼو بـــــــــوټو خوشبویي روانه
کوم ګلبـــــــدنه پـــــه دې لار راځي
یـــــــــادونه ســـــتا زما د زړه وطن ته
د پرهرونو په ســــــــینګار راځـــي
د بېلتون شپې به مـــې شفـقـــه وخوري
چې ستا د خوږ دیدن ســــــهار راځي.

## ستورو کاروان

له خپله درده مــــــــې ګیله وکړله
هغــــــــــې مې هسې تماشه وکړله
د رقیب سترګې شوې له اوښکـــو ډکې
ورته د مینې مـــــــــــې کیسه وکړله
ما به اقرار د میــــــــنې کړی وی خو
جانان له مخکې بـــــــــهانه وکړله
یو وار یې بـــــــــیا راسره وکړه کنه
د سترګو جنګ دې ښـــــــه مزه وکړله
د انسانانو له ځېرو مـــــــــې زده کړل
څوک ګناهګار دي چـــــا توبه وکله
هغـــــــــــه قاتل مې له وژلو تېر دی
خـــــــو ما یې مرګ حوصله وکړله
مامونده پاتــــــــې د دنیا دوران دی
دغه خبره دې پخـــــــــــه وکړله

# ستورو کاروان

(کبیر ستوری)

گناه د ازل نه ده، هسې تور دی، پرې لګېږي

خبره د حـالاتــو ده، پــدې که څوک پوهېږي

انسان خو له ازله، بدبخت نه دی پیدا شوی

بدبخته یې حالات کړي، بد قسمته شي، کړېږي

چې زړه دې وکه زړه، نو بدلولی شې حالات

حالات چې شي بدل، قسمت پخپله بیا بدلېږي

هدف که دې قسمت خپل بدلول وي، متې نغاړه

برکت دی حرکت کښې، دا متل دلته چلېږي

ډېـوه د ذهن بـله کړه، هـدف په لـورې درومه

هـــدف چې ژوند کې نه وي، ژوندون مړاوی شي وچېږي

امید د هـدف ساه ده، په امید باندې ژوندی دی

امـیـد د "ستوري" شته دي، چې پښتون به ازادېږي

## غزل

بصیر بېدار ستوری

چې د بـــل عـــــزت کوې عـــــــزت یې کیږي

د مشـــــرانو پـــــه عـــــــــزت سرې درنیږي

په کشــــرانو شفقت ډېر زیات پـــــکاردی

له ځـــــوانانو ســـره هـــم سرې ځـــــوانیږي

میـــــنه تـــل کوه نفـــــــرت زړه نه اوباســـه

د نفـــــــــرت ســــره دې ژوند په عذابیږي

کیـــــنه مه ســـــاته پـــــه زړه کې تېروه یې

مخلص اوسه چې اخلاص د خدای خوښیږی

زده کړه حـــق د هر انسان دی خدای ورکـړی

دغـــــه حـــــق دلته په زور اخیـــستل کـــیږي

دا لا کوم ډول حکومت او ریعت دی

چې په جـــــــونو د ښـــــوونځي لارې بندیږي

چې دې وس کـــیده له خلکو ســــــره ښه کا

همـــــدا ښـــه بـــه دې هر وخت کې پـــکاریږي

ســـــوچ پرې وکـــــه د بېدار خـــــبره واوره

خوند ترې واخله ژوندډېر لنډ دې ژر تیریږي




## صاحب شاه صابر

د محبت رازونه پټ ساتمه ستا د راتلو وختونه پټ ساتمه

په زړه د زړه دردونه پټ ساتمه دلته د غم ژبه څوک نه پېژني

نور د یارانو زړونه نه یخوم دلته کې خپل غمونه پټ ساتمه

نور به د زړۀ زخمونه پټ ساتمه د څښو خو څه وایي چې څه کفر دې

په دې بې لوزه موسم څه اعتبار زۀ دلته تش جامونه پټ ساتمه

ستا د وعدو ګلونه پټ ساتمه د ملامتو د فتوو د ویرې

د پرهرونو خولې مې وتړلې په سر کې ډېر سوالونه پټ ساتمه

نور د جانان یادونه پټ ساتمه د خلکو خولې خو تاته ښه پته ده

د دېوالونو نه مې ویره کېږي صابره ستا خطونه پټ ساتمه

# غزل

## عبد الحلیم همت

په غم پوشي هره لار هره لمحه کې

جانکاهي کا د ژوند ښار هره لمحه کې

اذیت د انتظار دی او موسکی یم

جستجو ده د قرار هره لمحه کې

هره لار د وصال په درد پوښلی

ګفتګو د ګل او خار هره لمحه کې

لیمه تر ، مهر به لب له یو اندوهه

ورم طلب تر کردګار هره لمحه کې

بوسه واخله له ګلاب تر فنا وراندې


دا پیغام دی د بهار هره لمحه کې

د وصلت په تمنا د زړه له کوره

جارو کوم د غم غبار هره لمحه کې

شم خاموشه که ګویا وایه همته

حقپلوي ځي تر دار هره لمحه کې



# پښتو د پخوانیو شاهانو په دربارو کې

لومړی پاچا چی د پښتو سره یی مینه درلوده امیر کروړ ؤ چی د امیر فولاد سوری زوی او په (۱۳۹هـ ق) کی په مندیش کی پر تخت کښیناست، دی نه یوازی داچی د پښتو سره یی علاقه درلوده بلکی د پښتو ژبی یو شاعر هم ؤ چی د شعر نمونه یی په لاندی ډول ده:

زه یـــــم زمـــــــری پر دی نړی له ما اتل نشته
په هند و سند و پـــــــــــر تخار او پر کابل نشته
بل پـــــــــــه زابل نشته
له مـــــا اتـــــــل نشته

د امیر کروړ وروسته نورو سوری پاچاهانو هم د پښتو سره علاقه درلوده چی د امیر محمد سوری (د سوری کورنۍ آخر پاچا) د دربار شاعر شیخ اسعد سوری وؤ، هغه وخت چی امیر محمد سوری د سلطان محمود غزنوی په بند کی د غور د آهنګران د کلا څخه غزنی ته وړل کیدی او زهر یی وخوړل نو شیخ اسعد چی د هغه ډیر سخت دوست ؤ د هغه په غم کی یی لویه قصیده وویل، البته دی لومړی شاعر دی چی په پښتو کی یی قصیده وویل. د نوموړی قصیدی سر دادی:

د فلک له چـــــــــــــــارو څه وکړم کوکار
زمولوی هر ګل چـــــــــــــــی خاندی په بهار

شیخ اسعد سوری په (۴۲۵هـ ق) کی د زمینداور په بغنی کی وفات سو. تر سوریانو وروسته سلطان شهاب الدین غوری هم د پښتو سره علاقه درلوده، دده په وخت کی دوه لوی شاعران تیر سوی دی.

- ښکارندوی غوری د سلطان شهاب الدین غوری معاصر ؤ چی سلطان شهاب الدین غوری په هند حمله وکړه نو په (۵۷۱هـ ق) کی ښکارندوی غوری دده په ستاینه کی ډیری قصدی وویلی چی د یوی قصیدی سر یی دادی:

د پسرلی ښکلونـــــــــــــکـــــی بیا کړه سینګارونه
بیا یی ولونل پـــــــــــــــه غرونو کی لالونه

- د شهاب الدین غوری بل معاصر شاعر ملکیار غرشین دی، شهاب الدین غوری په هند کی د اوسیدو ځای وروباخښه. ملکیار غرشین د مجاهدینو د تشجیع دپاره یوه ترانه ویلی ده چی سر یی دادی:

ښځتن مـــــــــــــو مل دی اوس مـــــــــــو یرغل دی
هیواد د بـــــــــــــل دی
غازیــــــــــانــــو گوری
ښځتن مـــــــــــو مل دی

د همدی ترانی په آخر بند کی د سلطان شهاب الدین غوری داسی ملاتړی کوی:

غازیــــــــــانــــو راشئ تول شاوخــــــــــوا شئ
د شهاب پــــــــــــه ملا شئ
دښمن مـــــــــــــو غوخ کئ
ښځتن مو مـــــــــــــل دی

تر سلطان شهاب الدین غوری وروسته د سلطان غیاث الدین غوری په دربار کی هم پښتو لوړ مقام درلود. دده د دوری مهم شاعر تایمنی ۇ. د سلطان په مدح کی یی ډیر اشعار ویلی دی چی یو څو بیتونه یی په لاندی ډول دی:

نن زه ږغیږم پـــــــــــــــه صفت د سلطان
چی دی بادار غـــــــــــــــــازی ملک د جهان
تل دی بری وی د غـــــــــــــــــازی پر میدان
زه تایمنی ستاینه کـــــــــــــــــــړم د سلطان

د ملتان لودی شاهانو هم د پښتو سره علاقه درلوده. سلطان نصر لودی چی د حمید لودی وروسته په (۳۴۱هـ ق – ۳۹۰هـ ق) پر تخت کښیناست د پښتو ژبی شاعر ۇ، او همدارنگه د ده اکا *شیخ رضا لودی* په پښتو شعرونه ویل. سلطان فیروز شاه د سالار رجب زوی او د غازی ملک خان وراره چی خپل د اکا د زوی سلطان محمد شا تر مرگ وروسته په (۲۴/محرم/۷۵۲هـ ق) کی پر تخت کښیناست، پښتو دومره ارزښت ورته درلود چی د دربار هر سړی ته د پښتو په وجه قدر ورکول کیدی دغه پاچا تر ۳۸ کالو پاچاهی وروسته په (۱۸/روژه/۷۹۰هـ ق) کی وفات سو. سلطان بهلول لودی چی پر هند یی ۳۸ کاله پاچاهی وکړه د پښتو بدیهه شاعر ۇ وایی چی خلیل نیازی د ده د دربار پښتون شاعر د هندوستان د برسات په موسم کی دا لاندی رباعی د سلطان په مخ کی وویله:

خړی وریـــــــــځـــــــــی ژاړی له پاسه کویله ږغ کا بیلتونه لـــــــــــــــــه لاسه
یه: هغه لونــــــــــــــــی گوهر په خول ستا دا مرحبا کا ستا زمونږ مـــــــــــــــــواسه

سلطان سمدستی دا لاندی رباعی وویله:

ملک بـــــــــــــــه زرغون کړم په ورکړه راسته
گوره وریځی د داد لـــــــــــــــــــــــه پاسه
خول می د عدل پـــــــــــــــــه درو روڼ دی
جهان به زیب مومـــــــــــــــــــــی زما له لاسه

دا پادشاه په (۸۹۴هـ ق) کی وفات سو.

میرویس نیکه که څه هم پاچا نه ۇ خو شاعران او ادیبان یی روزل. کله چی دوی قیام کاوه نو د رحمان بابا دیوان یی خلاص کړ او دا لاندی بیتونه راغلل:

زه مکتوب غوندی پـــــــــــــــــه پټه خوله گویا یم
خاموشی زما تیری کــــــــــــا تـــــــــــر غوغا زما
کښت د عشق پـــــــــــــــه توده ځمکه امان چیری؟
سمندر بویه چـــــــــــــــــــی زیست کا په صحرا زما

نو دوی هم چپ پاته سول او په پټ فعالیت یی شروع وکړه او کله چی د ملی قیام وخت راغی نو بیا یی درحمان بابا دیوان پرانیست او دا لاندی بیتونه راغلل:

چی آسمان یـــــــــــــــــــی مخ پټ کړی په سحاب ۇ
خدای و ماته ښکاره کـــــــــــــــــــــړ هغه نمربیا
چی رقیب راته تړلی پـــــــــــــــــــــه زنځیر ۇ
خپل حبیب راباندی پــــــــــــــــــرانیست هغه ور بیا
په وصال یـــــــــــــــــــی منت بار اوسه رحمانه
چی صدف کی دخـــــــــــــــــــل نشته د گوهر بیا

نو ټولو پښتنو په اتفاق سره ملی قیام وکړ او دوی کامیابه سول. د میرویس نیکه مور نازو انا د پښتو شاعره وه

چې دوه بیتونه یې په لاندې ډول دي:
سحرګه وه د نـــــــــــــــرګس لیمه لانده
څاڅکې څاڅکې یــــــــــــــــــې له سترګو څڅیده
ما ویل څه دي ښکلې ګله ولـــــــــــــــــــې ژاړې
ده ویل ژوند مـــــــــــــــــــــې دی یوه خوله خندیده

برسیره پر دې د میرویس نیکه اکثره سپه سالاران او ملګرې د پښتو ژبې شاعران وه لکه سپه سالار سیدال خان ناصر، سپه سالار داود هوتک، د پټې خزانې د لیکونکې پلار (ملا پیرمحمد میاجې مشهور په پیر افغان)، بابو جان بابې، ملا نور محمد غلجې او نور. د پښتنو دا ملې قاید په (۲۸/ذیجة الحرام/۱۱۲۷هـ ق) کې وفات سو. شاه - حسین هوتک د میرویس نیکه زوی چې په (۲۳/ربیع الاول/۱۱۱۴هـ ق) کې د کلات د سیورې په علاقه کې زیږیدئ ؤ او په (۱۱۳۵هـ ق) کې د خپل ورور شاه محمود هوتک په انتخاب په قندهار کې پادشاه سو او تر (۱۱۵۱هـ ق) پورې یې پاچاهي وکړه. دده په وخت کې ډیر زیات علمي کارونه وسول. شاه حسین هوتک لومړی پاچا ؤ چې پښتو ژبې ته یې خاصه توجه وکړه. دده په وخت کې پټه خزانه تألیف سوه. *د محمد هوتک په حواله:* شاه حسین هوتک به کله پښتو او کله فارسي اشعار ویل، پښتو اشعار به یې ملا یار محمد ته ویل او هغه به ځینې غلطۍ ځینې ایستلې، د شاه حسین د یوې غزلې سر دادې:
بیلتانه دی د غمو پـــــــــــــــــــــه چپاو چور کړم
په تیارو کې د هجران یـــــــــــــــــــې له تا دور کړم

د شاه حسین هوتک خور میرمن زینبه هم د پښتو ژبې شاعره وه، د ده د دربار نور علماء او پښتانه شاعران په لاندې ډول دي:

- افضل العلما ملا یارمحمد هوتک چې لوی عالم او د پښتو ادیب ؤ او په فقه کې یې د مسائل ارکان خمسة په نامه کتاب لیکلی دی.
- محمد هوتک چې پټه خزانه، خلاصة الفصاحة او خلاصة الطب یې په پښتو لیکلي دي، دی ښه شاعر هم ؤ چې د یوې غزلې سر یې دادې:
  ساقي پاڅه! د ســـــــــــــــــرو میو ډک یو جام را
  ستا له غمه نـــــــــــــــــــــــا آرامه یم آرام را
- بل عالم او شاعر ملا زعفران تره کې ؤ، د پټې خزانې مؤلف د مدالهام او صدر الفاضل په نامه یاد کړي دي او وایي: *د پادشاه کین لاس دی او یو کتاب یې د ګلسته زعفراني په نامه لیکلی دی.*
- سالار بهادرخان چې د شاه حسین مشهور سالار، بازو او ښه شاعر ؤ، پادشاه ورته په ورور او عوامو ورته امیرالامراء ویل.
- ریدي خان هم د پښتو ښه شاعر ؤ. دی په (۱۱۳۶هـ ق) کې اصفهان ته ولاړ، د پادشاه سره د خبرو وروسته کندهار ته راغئ او محمودنامه یې په نظم ولیکل نو شاه حسین هوتک ورته زر طلاوي صله کړي.
- نصرالدین خان اندړ هم د پښتو شاعر ؤ، په اشعارو کې یې د نصر تخلص کاوه.

تر هوتکیانو وروسته، احمدشاه بابا یو لوی شاعر ؤ چې د اشعارو یو دیوان یې سته. د احمدشاه بابا دربار لومړی دربار دی چې پښتو ګرامر پکښې لیکل سوی دی، دا ګرامر د پښتو شاعر پیرمحمد کاکړ د احمدشاه بابا د زوی شهزاده سلیمان دپاره چې دده شاګرد ؤ لیکلی دی. دا کتاب د پښتو لومړنی ګرام دی او تراوسه زمونږ لاس ته راغلی دی. تیمورشاه هم په پښتو شعرونه ویل چې د یوې غزلې سر یې دادې:
نن مې بیا له تورو سترګو ســـــــــــــــره جنګ دی
پر لبانو یــــــــــــــــــــــې د زړه د وینو رنګ دی

زمان شاه که څه هم شاعر نه ؤ مګر د پښتو ادیبان او شاعران یې روزل. مثلاً رحمت داوی چې په کندهار کې اوسیده او په (۱۲۱۰هـ ق) کې یې دلیلا او مجنون قیصه په پښتو نظم کړه. په مقدمه کې د خپل پاچا داسې ستاینه کوي:

| | |
|---|---|
| سلطان د شـــــــــــــاه زمان دی | دی خاقــــــــــــــان ابن الخاقان دی |
| پلار نیکه یــــــــــــــې پادشاهان وو | دویه تاج د هــــــــــــــــر افغان وو |
| شکر شکر شـــــــــــــــاه زمان | غنیمت دی دا زمـــــــــــــــــــــان |

د هغه وخت دوه نور شاعران میا نعیم متي زی او ګل محمد ابدالي وه.

امیر دوست محمد خان په وخت کې هم پښتو په شاهي دربار کې خاص ځای درلود او دده دوه وروڼه مهردل خان مشرقي او سردار پردل خان د پښتو شاعران وه. د سردار مهردل خان ځای په کندهار کې ؤ او هر مازدیگر به د کندهار نامتو ادبا لکه میرزا حنان، حاجي عبدالله، صدیق آخندزاده او نور شاعران دده په ځای کې سره راټولیدل او هلته به یې علمي او ادبي بحثونه کول. د سردار مهردل خان د یوی غزلي سر دادی:

پلو واخله له سپوږمـــــــــــــــــــــــــۍ مخه میرمنی
ستا بی مخه راته شپی دی ورځـــــــــــــــــــــــۍ سپینی

د سردار پردل خان د یوی بدلی چی پر ملي وزن یې ویلی ده سر دادی:

دی گورئ د گل په شان مـــــــــــــــــــــــۍ ژړ رخسار د یار دی
عالم یـــــــــــــــــــــــــۍ تمه دار دی

امیر شیر علی خان پښتو ته خاصه توجه درلوده ټولی عسکری بولی او د ملکي مامورینو القاب یې په پښتو واړول، علاوه پر دی د امیر شیر علی خان د خولی څو لنډۍ هم اوریدل سوی دی، لاندی لنډۍ یې هغه وخت ویلی چی د کابل څخه مزار ته پر لار وه او د بدبختیو ورته مخ ؤ:

ما ویل په تا بـــــــــــــــــــــــــــه زړگی ښاد کړم
اوس له تا وړم د ارمانجن زړگـــــــــــــــــــــــۍ داغونه

د غم لښـــــــــــــــــــــــــــــکری راپسی دی
د پاچهی تاج مـــــــــــــــــــــــــــۍ پر سر له ملکه ځمه

د امیر حبیب الله خان په وخت کې پښتو په تعلیمي نصاب کې شامله سوه، په امانیه دوره کې په کابل کې پښتو - مرکه جوړه سوه چی دغه مرکې د پښتو ژبې قواعد ولیکل، نوی نومونه او اصطلاحات یې جوړ کړل. ځینی کتابونه یې د ښوونځیو دپاره جوړ کړل یو کتاب د پوازیني پښتو او بل د پښتو پښویه په نامه طبع او خپاره سول. پښتو مرکې د پښتو ژبې یو جامع قاموس هم ولیکه مگر متاسفانه چی طبع او نشر نسو. د سراج الاخبار او طلوع افغان په جریدو کې هم پښتو جاری سوه.

## د افغانستان جریدی

**۱- شمس النهار:** هغه وخت چی په (۶۹ – ۱۸۶۸م) کې سید جمال الدین مجبوره سو چی خپل ملک پریږدی نو امیر شیرعلی خان ته یې د یوی جریدی وړاندیز وکړ. امیر هم په (۱۲۹۰هـ ق) کې جریده نشر او خپره کړه. دغه جریده شمس النهار په هفته کې یو وار په (۱۶) صفحو کې د بالاحصار په سنگی مطبعه کې چاپیده. په لومړی مخ کې بې د شمس النهار کابل عنوان د دوو زمریانو تر منځ لیکل سوی ؤ چی د هر زمری په یوه لاس که توره او بل لاس کې عنوان ؤ. دغه جریدی مدیر نه درلود او د جناب میرزا عبدالعلی په اهتمام خپریده. د شمس النهار د لیکنو څخه معلومیږی چی د امیر شیرعلی خان په وخت کې افغانستان په شمالی برخو کې د توپ جوړولو یوه ماشین خانه درلوده او همدارنگه په (۱۲۹۱هـ ق) کې د یوی سختی زلزلی خبر ورکوی.

**۲- معرف معارف:** دا په افغانستان کې لومړی معارفي مجله وه چی د پوهنی له وزات څخه د (۱۲۹۸هـ ش) د سنبلی په اوله په کابل کې نشر سوه. ددی مجلی قطع ډیره کوچنی وه چی د معمولی کاغذ اتمه برخه کیدله. په لومړی کال (۳۰) مخه او په دوهم کال کې یې (۶۰) مخه درلودل. دا مجله د (۱۳۰۱هـ ش) کال د ثور تر میاشتی پوری خپره سوه. د لومړی کال چلوونکی یې معلوم نسو خو د دوهم کال چلوونکی یې محمد حسین د کابل د حبیبی لیسی مدیر او محرر یې ښاغلی حافظ امیر محمد ؤ.

**۳- ارشاد النسوان:** د ښځو دا جریده په [(پنجشنبه) ۱/۱/۱۳۰۰هـ ش] کې چاپ او نشر سوه. په افغانستان کې دا د ښځو لومړی مجله ده. مدیره یې اسمار د محمود طرزی ماندینه او محرره یې روح افزا د محمد زمان خازن الکتب لور وه چی هری یوی خپل د نوم مخفف په ترتیب سره د مجلی پر سر (ا – ر) او (ر – ا) لیکل. دا مجله هر پنجشنبه د ده افغانانو په کاروان سرای کې پر نازک پسته یې کاغذ په سنگی چاپخانه کې چاپیدله. د جریدی نوم او عنوان د یوه کتاب، د یوی توری او یو خول تر رسم لاندی لیکل سوی او دا خول بیا د دوو وړو په مینځ کې رسم سوی ؤ. لومړی دا جریده په (۴) مخونو کې مگر وروسته تر (۱۲می) گڼی په (۸) مخونو کې چاپیدله.

# دپښتنو ادیبانو تاریخچه

## امیر کروړ

امیر کروړ د امیر پولاد سوری زوی چه په ۱۳۹هـ کی دغور په مندیش کی امیر شو، امیر کروړ ډیر غښتلی وو او په یو تن له سلو تنو جنګاورانو سره جنګیده. امیر کروړ په زمینداور کی دمندیش په شان مانۍ درلوده او په دوبی کی به په زمینداور کی وۀ. سوریان د هغه سور له اولادی څخه دی چه د سهاک له پښته ۇ. امیر پولاد د عباسیانو او ابومسلم خراسانی په ملاتړی جنګ کاوه. په تاریخ سوری کی محمد بن علی البستی داسی لیکلی دی چه امیر کروړ د عباسیانو دپاره ډیره سوبی کړیدی. شیخ کټه له تاریخ سوری نقل کوی چه: امیر کروړ ډیر عادل سړی وو چه په کال ۱۵۴هـ کی د پوشنج په جنګو کی مړ سو او دده وروسته دده زوی امیر ناصر امیر سو.

**دامیر کروړ دکلام نمونه**

زه یـــم زمـــری پـــر دی نـــړی لـــه ما اتل نسته
پـــه هـــنـــد و ســنــد و پـــر تـخار و پر کابل نسته
بـــل پـــه زابـــل نـــســـتـــه لـــــه مــــا اتـــل نـــســـتـــه

## بیټ نیکه

دبیټ نیکه نوم مورخینو بیټن او بټن هم لیکلی دی، دده ژوند د ۳۰۰ او ۴۰۰هـ ترمنځ اټکل سوی دی. تر ټولو پخوانی کتاب چه دده اشعار پکښی راغلی دی تذکرة الاولیاء دی چه سلیمان ماکو په ۶۱۲هـ ق کال کی لیکل دی. بیټ نیکه دوه وروڼه درلودل چه سړبن او غرغښت نومیدل، بیټ نیکه خپل اسمعیل زوی و سړبن ته ورکړ او د سړبن اولاده زیاته سوه.

لـــویـــه خـــدایـــه! لویه خـــدایـــه! ســـتـــا پـــــــــه مینه په هر ځایه
غـــــر ولاړ دی درنـــــاوی کـــښـــی تـــولـــــــــه ژوی پـــه زاری کښی

## پیر روښان

د پیر روښان اصلی نوم بایزید، په (۹۳۱هـ ق) کی زیږیدلی، د پلار نوم یی عبدالله چی په اووم پښت کی شیخ سراج الدین انصاری ته رسیږی، د نیکه نوم یی محمد ۇ او په قوم اورمړ اصلی وطن یی قندهار او د شیرشاه سوری د مرګ وروسته د پښتونستان په کانی ګرام کی اوسیده. پیر روښان د وخت مخالفینو پیر تاریک باله، ده د وخت متداوله علوم د ملا سلیمان کالنجری او ملا پاینده څخه ولوستل او بیا د فلسفی د تحصیل او د تصوف د معلوماتو د تکمیل دپاره هند او ماوراء النهر ته ولاړ کله چی دی وطن ته راغی نو مغول په افغانستان کی مسلط وه، ده پښتانه د مغولو پر خلاف پاڅول، دی په پای کی د شینوارو د علاقی (تور غره) ته نږدی په (کالا پایی) نومی ځای کی په داسی حال کی چی د متجاوزینو سره جنګیده جل وواهه او له تندی مړ سو چی د مړینی نیټه یی د (۹۹۰هـ ق) او (۹۹۴هـ ق) تر منځ تخمین سوی ده. پیر روښان د توری سره یو ځای کتابونه هم لیکلی دی چی د هغو څخه خیر البیان دی چی په پښتو، عربی، فارسی او هندی ژبو یی لیکلی دی او داکتاب اوس په پیښور کی چاپ سوی دی. پیر روښان په فلسفه او حکمت کی ډیر رسیدلی ۇ چی په هغه وخت کی پیر بابا او د هغه د غښتلی مرید اخوند درویزه چی په بونیر کی اوسیدل تر منځ زیاتی مناظری او منازعی وسوی چی اخوند درویزه هم د پیرروښان پر علم او ځیرکی قایل ۇ. د پیر روښان څخه د هغه لاندی تصانیف راپاته دی: مقصود المومنین، حال نامه، صراط التوحید، خیرالبیان. پیر روښان د وحدت الوجود د مسالی لوی مبلغ تیر سوی دی چی شیخ محی الدین ابن العربی مشهور فیلسوف او متصوف هم تر ده ډیر پخوا دغه مساله څیرلی ده، مولانا بلخی، حسن بصری، شیخ عبدالقادر جیلانی، جنید بغدادی، ذوالنون مصری، بایزید بسطامی، فرید الدین عطار، شمس تبریزی، سعدی، حافظ، جامی او داسی نورو اکابرو په خپل وار د دغی مسالی طرفداری کړی ده، دا یوه نوی مسله نه وه چی پیر روښان منځ ته راوړی وه بلکه دی هم د نورو علماؤ پر منډ روان وۀ او د میرزاخان دولت لوانی په شان شاعران هم په دغه مسله کی په ده پسی تللی دی.

نقل کا چی: هغه وخت چی شیرشاه سوری د پښتنو ننګیالی پاچا په هند کی تر پنځو کالو پاچاهی کولو وروسته وفات سو، د ظهیرالدین بابر زوی همایون بیا وکړای سوه چی هند ته ولاړ سی خو ژوند یی وفا ونکړه او یو کال وروسته مړ سو او د ده وروسته دده ۱۴ کلن زوی اکبر دده پر ځای کښیناست، اکبر د خپلو پلرو په ډول د پښتنو

سره مخالفت شروع کړ، په (۱۵۸۶م) کال کی یی یو لوی لښکر د خپل رضاعی ورور (زین خان کوکه) او (راجا بربل) په سالاری د اټک خواته واستاوه چې په نتیجه کی اته زره تنه سپاهیان، راجا بربل او ځینی نور سرداران مړه او ماته یی وخوړه چې په دی ځای کی پیر روښان هم جنګیده.

## میرزاخان انصاری

دنور الدین زوی او دبایزید روښان لمسی ؤ، په قوم اورمړ، په ۹۸۸هـ ق کی زیږیدلی او په ۱۰۴۰هـ ق کی د دکن په جنګ کی مړسو او دی د شعرونو یو دیوان هم لری

## رحمن بابا

رحمن بابا د عبدالستاور زوی، په قوم مهمند او په (۱۰۴۲هـ ق) کال کی د پیښور د مهمندو د بهادر په کلی زیږیدلی دی. رحمن بابا یو صوفی سړی وو چی فقه او تصوف یی له ملا محمدیوسف یوسفزی څخه زده کړل او نور علوم یی په هند کی زده کړل او هم یی یو وار په زلمیتوب کی د خوشحال خان سره په اکوړه کی لیدلی وه. رحمن بابا د شعرونو دوه دفتری دیوان لری. دده د کلی خلک اوس هم د هغه ونی درناوی کوی چی رحمن بابا تری لاندی کښینستی. رحمن بابا په (۱۱۱۸هـ ق) کی وفات سوی او د پیښور د علاقی د هزارخانی په هدیره کی ښخ دی.

**درحمن بابا د کلام نمونه**

چــی مــدام د بــل و عــیــبــو تــه نــظــر کــری
خــدای لــه خــپــلــه عــیــبــه ولــی بــی خبر کړی
کــه یــوه جــودانــه عــیــب وینــی پــه بــل کــی
هــغــه یــوه جــودانــه عــیــب بــه یــی لــوی غــر کړی

## حمید مومند

حمید بابا په قوم مومند، دپیښور د ماشوخیلو په کلی کی زیږدلی دی، د زیږیدنی نیټه یی نه ده معلومه مګر دمړینی نیټه یی پروفیسر بومهارت ۱۱۴۵هـ ق ښودل دی.د حمیده بابا په شعرونو کی دوه خصوصیتونه سته: اول داچی ښکلی تشبیهات او استعاری پکښی سته او بل داچی د پښتو ژبی زاړه لغاتونه یی پکښی راوړی دی حمید مومند د ۳ مرجانو په نامه دیوان لری، د ۱۱۳۷هـ کال د شاه او ګدا قیصه چه هلالی په فارسی لیکل وه په پښتو یی ترجمه کړه او د مولانا غنیمت د نیرنګ عشق ترجمه ده چی په پښتو مثنوی یی لیکلی ترجمه کری ده.

## خوشحال خان خټک

خوشحال خان په (۱۰۲۲هـ ق) کال د ربیع الثانی په میاشت له پیښوره پنځه ویشت (۲۵) میله لیری د لمر خاته د لنډي سیند پر غاړه په (اکوړه) نومی ځای کی وزیږید چی پلار یی شهباز خان د یحیی خان زوی او ملک اکوړی نمسی د خټکو د قبیلی یو مقتدا مشر ؤ چی د هغه تر مړینی وروسته خپله خوشحال د قوم مشر سو. د خوشحال خان خټک ۲۶ کلن زلمی زوی په (۱۰۸۹هـ ق) کی ځوانیمرګ سو نو ده به همیشه ویل چی دابنه وو چی په جنګ کی مړ سوی وای نه په تلتک کی. خوشحال خان تر شپیتو زیات زامن درلودل او یودیریش یی لونی وی او د ۷۸ کالو په عمر د (۱۱۰۰هـ ق) کال د ربیع الاول په ۲۸ وفات سو چی وروستئ وصیت یی داؤ: (ما هلته ښخ کړی چی د مغلو سیوری می پر خاوره ونه شی، او د مغلو د سپرو د پښو ګرد می پر هدیره ونه لویږی!!)

**د خوشحال خان ختک د کلام نمونه**

مــــرد هــــغــــه چــــی هــــمــــتــــنــــاک بــــرکــتــنــاک
د عــالــمــه ســره خــوښ پــه زیــســت و ژواک
مــخ یــی مــخ، قــول یــی قــول، عــهــد یی عهد
نــه دروغ، نــه یــی فــریــب، نــه تــش تــپــاک

نور په بله ګڼه کې...

# د اقصاء په یاد کې!

راټولونه: عبد الله مخلص



کله چې د قدس فاتح (سلطان صلاح الدین ایوبي) پر صلیبیانو یرغل ته ځان چمتو کاوه، یوه زړه صلیبي ښځه راغله او هیله یې ترې وکړه، چې جګړه وځنډوي، ځکه ناوې نږور یې پر اولاد ناروغه ده او که جګړه ونښلي، نږور او ماشوم دواړه به له لاسه ورکړي.

صلاح الدین ومنله او جګړه یې سبا ته وځنډوله....

سبا ته بیا هماغه زړه مېرمن د ایوبي حضور ته راغله او په ژړا یې وویل: د هغه الله په خاطر چې پرې باور لرې او په نامه یې جهاد کوې نن هم یرغل ونکړې، ځکه لا هم ماشوم دنیا ته نه دی راغلی.

صلاح الدین وویل: ژمنه کوم چې د ماشوم تر پیدا کېدو پورې به پر صلیبیانو جګړه ونکړم...

بل خوا د صلیبیانو سرلښکر چې له دوو ورځو راهیسې د صلاح الدین یرغل ته په تمه وو، د جګړې ځنډېدو له امله سخت حیران شو او د مالوماتو تر لاسه کولو په موخه یې یو استازی ور ولېږه، ځکه صلاح الدین کله هم د دښمن پر وړاندې جګړه نه وه ځنډولې.

کله چې لېږل شوي استازي له بیرته راګرځېدو وروسته، د صلیبیانو سرلښکر ته د جګړې ځنډېدو لامل ووایه، د هغه سترګې را ډنډ شوې، خپل استازی یې له یوه پیغام سره بیا صلاح الدین ته ولېږه.

صلیبي سرلښکر ایوبي ته په لېږل شوي لیک کې لیکلي ول: «هغه لښکر چې زمونږ پر یوه مور او ماشوم د رحم له امله جګړه ځنډوي مونږ ترې هیڅ وېره نه لرو، راشه او له جګړې پرته ښار ته داخل شه، دا ستره بریا دې درته مبارک وي»!....

یادونه: هغوئ چې په جګړه کې، پر بې وزلو رحم نکړي او بې ګناه انسانان وژني، د الله له پاره نه، بلکه د ځان له پاره جګړه کوي.

د تاریخ الاسلام له پاڼو

سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿1﴾

هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده یې د شپې په یوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ ته بوتلو، هغه (مسجد اقصیٰ) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی، د دې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو ځخه ځینې وښیو، بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه لېدونکی دی۔

آیا که سبا ورځ په کعبه شریفه باندې جګړه ونښلي نو تاسې به بیا هم وایئ چې دا خو د عربانو ملکیت دی، مونږ ته یې څه؟ عربان زمونږ غم کې نه دي او مونږ د هغوی۔!؟ لکه اوس چې همدا نظر د خپلې لومړۍ قبلې په اړه لرئ!

آیا زمونږ پیغمبر افغان و؟ که نه و نو ولې یې منو؟

آیا قرآنکریم په پښتو یا دري ژبه باندې دی؟ که نه دی نو ولې یې منو؟

بیت المقدس نه دعربو دی چې یواځې عربوته پیغور ور کړو

نه دایران دی نه دافغانستان دی نه دپاکستان دی بلکې دټول

امت مسلمه مشترک مقدس ځای دی

زه به دټول امت مسلمه هغه ځوانانو ته پیغور ورکړم چې

اسلامي ارزښتونه یې شاته غور ځولې دي د اسلام مقدس

ځای رسما نړیوالو ښکیلاکګرو دخپل ځان په نوم کړی

خو زما افغان ځوان دکرکټ په مبارکی لګیا دی عرب ځوان

می په عیاشی لګیا دی پاکستانی ځوان می په زنده باد

اومرده باد مصرف دی بنګلدیشی ځوان خوځان پرنارینه نه

شماری اوترکی ځوان تش لافی ولی

اصلې خبره داده چې زماپه شمول موږ ټول ملامت یو

چی تر څو بیټ پرځای قران او غیرت ته لاس نه کړو لیرې

نه ده چې مکه مو هم رسما د کفارو مرکز وګر ځیږی،

موږ ولې د فلسطین قضیه تعقیبو!؟

●ځکه فلسطین د الله د پیغمبرانو هستوګنځی دی، لکه چې سیدنا ابراهیم علیه السلام هم دې ته هجرت کړې و..

●لوط علیه السلام چې کله الله د عذاب څخه بچ کړ دغې مبارکې زمکې ته راغی.

●داود علیه السلام په فلسطین کې هستوګن شو او هلته ئې محراب جوړ کړ.

●سلیمان علیه السلام پر نړۍ له فلسطین څخه حکومت کاوه، او هغه د میږې سره یې پېښه هم دلته په فلسطین کې

په وادي النمل کې چې (عسقلان) کې یو ځای دی را مینځ ته شوی.

●دارنګه زکریا علیه السلام دلته پاتي شوی او محراب یې شاهد دی.

●موسی علیه السلام له خپل قوم څخه غوښتي و چې أرض المقدسة ته ولاړ شئ چې هغه همدا فلسطین دی.

●الله یې نوم أرض المقدسة ایښی یعنی له شرک څخه پاک د انبیاؤ ټاټوبی.

●داشان دلته ډیری معجزې او پیښی رامینځ ته شوي لکه د عیسی علیه السلام زوکړه له پیغلې او عفیفې مریم څخه. او چې کله یهودو د هغه د

وژنې قصد وکړ نو الله له هم دي ځایه اسمان ته پورته کړ.

●دغه شان عیسی علیه السلام به مسیح الدجال د اللـه دروازې سره په فلسطین کې وژني.

●دا د محشر ځمکه ده.

●یأجوج او مأجوج به په آخره زمانه کې هم دلته وژل کیږی.

دارنګه نورې ډیرې پیښې دلته را مینځ ته شوي لکه د طالوت اوجالوت واقعه چې قران یې یادوي.

●الأقصی د مسلمانانو لومړۍ قبله ده چې د الله په حکم بیا مسلمانانو کعبې ته مخ وګرځاوه، لکه چې فرمایي:

)قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَ حَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ و ◌إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ البقرة ١٤٤ ، ١٤٥

●د معراج سفر له هم دي ځایه شوی.

●په هم دي أقصی د الله پیغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ټولو انباؤ رهبري او امامت کړی، ﴿ ﴾

●مسجد الأقصی یو له هغو مسجدونو څخه دی چې په کې ورته د ثواب په نیت سفر جواز لري لکه چې حدیث کې راځي...

عن أبي سعید الخدري ،

عن النبي محمد صلی الله علیه و سلم أنه قال :

»لا تُشَدُّ الرحالُ إلَّا إلی ثلاثةِ مساجدَ :

مسجدِ الحرام ، و مسجدِ الأقصَی ، و مسجدي هذا.«

●په مسجد الأقصی کې یو لمونځ په 500 دی لکه چې حدیث کې راځي..

عن جابر بن عبد الله عن النبي صلی الله علیه و سلم أنه قال : «صلاةٌ في المسجدِ الحرامِ مائةُ ألفِ صلاةٍ ، و صلاةٌ في مسجدِي ألفُ صلاة ٍ، و في بیتِ المقدسِ خمسمائةِ صلاةٍ«

په یو بل روایت کې داسې الفاظ دي: أن الصلاة في المسجد الأقصی تعدل مائتین و خمسین صلاة في غیر المساجد الثلاثة.

●الأقصی هغه مسجد دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته د هغه تر څنګ د وسیدلو امر کړې دی لکه امام احمد په خپل مسند کې روایت نقل کوي

: عن ذِي الأَصَابِعِ قَال : قلت یا رسول الله ، إِنِ أبْتُلِینَا بعدك بالبقاء أین تأمرنا؟ قال :" علیك ببیت المقدس فلعله أن ینشأ لك ذریة یعدون إلی ذلك المسجد و یروحون."

●د سمې او پېنې عقیدې نښه د بیت المقدس قضیې ملاتړ کول دي.

●د غیرت او نرینه توب غوښتنه د فلسطینې قضیې ملاتړ.

نو فلسطینې قضیه د مسلمانانو قضیه ده

بیت المقدس او مسجد القدس د مسلمانانو د عزت او ابرو نښه ده.

بیت المقدس!

تا سه وکړل کله چې د دوی بد نظرونه په مسجد اقصی وو؟

په دې باندې دې هر یو ځان وپوهوي چې الله تعالی به حتما ترینه د قیامت په ورځ د مسجد اقصی په اړوند پوښتنه کوي چې تا د اقصی د ژغورنې او آزادۍ لپاره څه وکړل، هلته به بیا څه وایې؟

شهید یاسین رحمه الله څومره ښه وایي: د فلسطین قضیه بې له جهاد څخه بل حل نلري.

الله جل جلاله د خپل دین او لارویانو ساتنه کولی شي، مګر هغه جل جلاله دا موږ ته راپرې ایښي او دا مانت یې موږ ته را پرې ایښي، که څوک د دغه امانت لپاره کار وکړي هغه ته به الله جل جلاله د خپل عمل پاداش ورکوي او هغه څوک چې ځان تري وباسي او په کیسه کي یې نه کیږي هغه ته به عذاب ورکوي او زلزلي به پرې راولي او هلاک کوي به یې، موږ ته د عزت ژوند بې له دینه چې جهاد وکړو نشته او تر هغې به مسجد اقصی هم آزاد نشي ترڅو پوري چې جهاد ونشي.

لږ تر لږه دغه څو کارونه خو حتما وکړو!

۱ -له اسرائیلي او امریکایې صادراتو له اخستلو څخه ځان وژغورو.

د اقصی لپاره دعاوي کول.

۳ -د مجاهدینو لپاره دعا وکو.

پاکه خدایه ته مونږ د مسجد اقصی په حق کې ونه نیسی!

په کال ۱۱۸۷ میلادي کې سلطان صلاح الدین ایوبي چې کله بیت المقدس ته دفاتح په توګه ننوت نو دکورونو څخه مسلمانان راووتل، ښځو دهغه په لار کې خپل پړوني خپاره کړل خو ساتوونکو هغه بیرته راټول کړل او هغوي ته یې په سرونو ور واچول مسلمانانو د ډېرې خوشحالۍ څخه ژړل او چیغې نارې یې وهلې، ځینې په سجده پرېوتل ډېر جزباتي او احساساتي حالت وو د ټولو د سترګو څخه اوښکې روانې وې، سلطان صلاح الدین ایوبي هرکلي کوونکو ته لاسونه ښورول خو په خوله یې څه نه ویل ځکه دهغه ستونی له ژړا څخه بند وو

سلطان صلاح الدین ایوبي تر ټول لمړی مسجد اقصا ته لاړ او هلته په دهلېز کې په سجده پرېوت او دومره یې وژړل چې دهلېز یې په اوښکو لوند شو،

او سملاسی یی امر وکړ چې مسجد الصخره دې فورا دوباره ترمیم شي، دغه جومات صلیبیانو کلیسا ته اړولی و، او د معراج په تیږه باندې دوی مرمر تیږه لګولي وه چې درسول کریم صلی الله علیه وسلم د پښې مبارکې نښان نه لیدل کیده، مسلمانانو د الصخره ګنبد سر ته اوچت شول او غټ د سروزرو صلیب چې دوی پرې لګولی وی هغه یی را ګوزار کړ.

مسجد الاقصی نه صلیبیانو اسطبل جوړ کړی و په دې کی یې اسونه ساتل، مسلمانانو مسجد اقصی

صفا کړ، د ګلابو په اوبو یې پریمنځو او د مسجد محراب یی دوباره جوړ کړ او دایی پرې ولیکل:

بسم الله الرحمن الرحیم

د دی مبارک محراب او د مسجد اقصی د دوباره ترمیم او جوړونې امر د خدای بنده، بادشاه صلاح الدین ورکړ، پس له هغه چې الله تعالې د ده په لاسونو د بیت المقدس ښار د رجب په میاشت په کال ۵۸۳ هجری کې فتح کړ.

سلطان د الله سبحانه و تعالې نه د هغه رحمت او رضا غوښتنه کوي

الله تعالې دې په خپل رحمت او مهرباني سره د هغه ګناهونه او غلطۍ وبخښي

تر کال ۱۹٦۷ م پورې بیا بیت المقدس هماغسې ازاد پاتې شو تر دې چې غاصبو یهودیانو دمسلمانانو بې اتفاقي په پای کې ونیوه تر اوسه یې په لاس کې ده

د بیت المقدس لغوي او اصطلاحي معنی (پاک کور) ده، یا دا داسې مبارک کور ده، چې د انسان ګناهونه پکې بخښل کیږي.بیت المقدس ته په اروپایي ژبو کې (یروشلم) او عربي ژبه کې ورته (القدس) وایي.بیت المقدس شاوخوا غرونه لري او خپله مسجد صخره او مسجد اقصی د (صیهون) په غره کې واقع دي.

د بیت المقدس لغوي او اصطلاحي معنی (پاک کور) ده، یا دا داسې مبارک کور ده، چې د انسان ګناهونه پکې بخښل کیږي.بیت المقدس ته په اروپایي ژبو کې (یروشلم) او عربي ژبه کې ورته (القدس) وایي.بیت المقدس شاوخوا غرونه لري او خپله مسجد صخره او مسجد اقصی د (صیهون) په غره کې واقع دي. او له مکې مکرمې نه تقریباً ۱۳۰۰ کیلومتره لرې ده.په لومړۍ پیړۍ کې، کله چې رومیانو بیت المقدس تر خپل واک لاندې راوست، د (ایلیا) نوم یې پرې کېښود.په ٦۲۰عیسوي کال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جبرایل علیه السلام په رهنمایي له مکې معظمې نه بیت المقدس ته لاړ او بیا یې د اسماني معراج په سفر تشریف ویوړ.حضرت یعقوب علیه السلام د الهي وحې مطابق د بیت المقدس (مسجد اقصی) بنیاد کېښود او بیا بیت المقدس ښار اباد شو. بیا اوږده زمانه وروسته حضرت سلیمان علیه السلام  د دې مسجد او ښار د نوي کولو حکم وکړ. چې له همدې امله بیت المقدس ته هیکل سلیماني هم ویل کیږي.د هجرت په ۱۷ کال مطابق د ٦۳۹ د عمر فاروق رضی الله عنه د أمارت په زمانه کې له عیسایانو سره د یوه تړون او معاهدې

له مخې بيت المقدس د مسلمانانو تر واک لاندې راغی.په ۱۰۹۹ کال کې د اول صليبي جنګ پر مهال صليبيانو بيت المقدس ونيوه او شاوخوا ۷۰۰۰۰اويا زره مسلمانان يې په ډېرې بې رحمۍ سره په شهادت ورسول.بيا په ۱۱۸۷ کال کې سلطان صلاح الدين ايوبي د خپل لوی او سپېڅلي ارمان له مخې بيت المقدس له صليبيانو ونيوه. صليبيانو چې د بيت المقدس د نيولو پر مهال څه ډول وينې بهولې وې، صلاح الدين ايوبي د لوېې کارنامې ترڅنګ هغسې چلند ورسره ونکړ بلکې ټولو ته يې بخښنه وکړه او سره له مال او اولادونو سره يې له بيت المقدس نه د وتلو اجازه ورکړه، هغو ته چې د جزيې ورکولو وس يې نه درلوده، د يې عفوه او د پاتې کېدو اجازه وکړه.د دغې تاريخي فتحې کيسه په (صليبي جنګونه) کتاب کې وګورئ.تاريخ ته په کتلو سره د بيت المقدس د ازادۍ لپاره يو بل عمر او ايوبي ته ضرورت ده چې دغه مقدسه خاوره د صليبيانو او يهوديانو له پليتو منګولو څخه پاکه کړي او مسلمانانو ته بېرته خپل برم اعاده کړي.

د اسلام لومړيو کې د مسلمانانو قبله بيت المقدس کې الاقصی جومات و. وايي پيغمبر صلي الله عليه وسلم، چې مکه مکرمه کې و، نو لمونځ به يې په ګډه د کعبې او الاقصی جومات پر لور کاوه، نو د لمانځه پر مهال به يې کعبه د ده او بيت المقدس ترمنځ وه.

دا مکي پېر بلل کېږي چې ۱۳ کاله يې دوام وکړ. کله يې چې بيا مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو هلته يې بيا د الاقصی جومات پر لور لمونځ کاوه. دې حالت، ۱٦ يا ۱۷ مياشتې دوام وکړ.

بيا د هجرت پر دوهم کال قبله مکې مکرمې کې د الحرام جومات پر لور واوښته، په اړه يې د بقرې سورت ۱۴۴ ايت هم کيسه کوي.

بيت المقدس لومړی ځل د ٦۳٦ زېږيز کال د اوکتوبر پر ۱۸ مه چې د ۱۵ هجري کال د روژې ۱۳ مه وه، د حضرت عمر رضی الله عنه په وخت کې په سوله ييز ډول فتح او تر اسلامي واکمنۍ لاندې راغی.

د الاقصی جومات يو دروازه غوانمه نومېږي. د عثمانيانو واکمنۍ پر مهال په کې د زوايا په نامه سيمې جوړې شوې. له غوانمه دروازې سره نژدې يوه سيمه، الزاوية الافغانيه نومېږي.

وايي ۱۰۴۳ هجري کال کې د بيت المقدس عثماني والي محمد باشا، جوړه او هغو افغان حاجيانو ته ځانګړې کړه، چې په کلني ډول به په

زرگونو شمېر د حج مراسمو لپاره مکې مکرمې ته پر لار له بیت المقدس تېرېدل.

وایي افغانان به ازادنه فلسطین ته تلل، او تر ۱۹۴۸ کاله پورې ډېر یافا ښار کې مېشت شوي وو، بیا د نابلس، القدس او قلقیلیې په څېر ښارونو کې تیت شول او تر اوسه هم وایي شته.

افغان زاویه که څه هم بېلابېلو وختونو کې رغول شوې، خو خپله عثماني بڼه یې ساتلې، سر کې یې لوحه ده، چې د زاویې، بنسټ ایښودونکي نومونه او د جوړېدو کال په کې لیکل شوي دي.

زاویه کې وایي یو ځوړند جومات دی، چې د ورننوتو لارې ختیځ اړخ کې دی، پر سر یې مناره ده، او تر شا یې بیا غوانمه، د الاقصی جومات دروازې یوه مناره ده.

وایي دې زاویه کې افغان کورنۍ مېشتې وې، چې اوس یې وایي دا زاویه تصوف لپاره ځانگړې کړې، دوی ترې وتلي او ورځېرمه زاړه ښار کې مېشت شوي دي.

وایي یو له پخوانیو شیخانو چې دې زاویه کې اوسېدلي، الحاج عبد الله رحمدل شا الافغاني و.

وایي دی، ۱۸۹۰ کال د غزني قرباغ کې زېږېدلی و، په ۱۹۳۸ کال کې د افغانۍ زاویې شیخ شو، او بیا یې ۱۹۷۹ کال کې تر وفاته هم مشر و .

د عثمانیاو واکمنۍ پر مهال بیت المقدس کې د نورو وگړو لپاره هم زاویې وې، لکه الزاویة البخاریة، الزاویة الهندیة، الزاویة الافریقیة، الزاویة المغربیة او داسې نورې... چې بیت المقدس او الاقصی جومات ته به د زیارت لپاره ورتلوکي په کې مېشتېدل

یهود هغه بد بخته قوم دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو پلان یې جوړ کړ، په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې سحر وکړ، په خوړو کې یې زهر ورکړه، د اوس او خزرج مسلمانانو تر مینځ یې فتنې پیدا کولې او په زرهاوو نور جنایتونه یې د مسلمانانو پر ضد کړیدي او لایې هم کوي خو مسلمانان یې په اړه بې تفاوته او بې احساسه دي !!!

کولی چې

د یادونې وړده چې زموږ په زمانه کې ښکاره او رسمي یهود هماغه اسرائیل دي چې د بیت المقدس په شمول یې د فلسطین ډېره مځکه غصب کړې او په زوره یې ځانته حکومت وربانده جوړکړی دی، په نړۍ کې امریکا او انگلیس هغه مشهور هیوادونه دي چې مطلقا د

اسرائیلو پوره ملاتړ کوي او په هره برخه کي يې د مسلمانانو پر ضد مرسته کوي.

همداسي د ځینو اسلامي هیوادونو واکمنان هم د اسرائیلو سره تودې اړیکي لري او د پردې ترشا يې کومک کوي، پداسي حال کي چي اسرائیل د مځکي پرمخ پر هیڅ ځای باندي شرعا او عقلا د دولت جوړولو حق نلري بلکي دوی باید د نورو انسانانو په حاکمیت کي تل د خوارۍ او ذلت ژوند وکړي له همدې امله تېرو اسلامي خلافتونو دوی ته د حکومت جوړولو او پر یوځای باندي د راټولېدلو اجازه نه ورکول.

په رښتیا چي نن اسلامي امت ویده او بې فکره دی !

نن هغه وخت دی چي اسلامي امت د مال، ښځو او چوکۍ په شوق او فتنه کي ډوب دی حقیقي انسانیت او ایماني مسئولیت يې بیخي هیر کړی دی .

١ : ای مسلمانانو را ویښ شئ !

٢ : ای مسلمانانو ځانونه وپیژنئ !

٣ : او ای مسلمانانو خپل دوستان او دښمنان وپیژنئ

یو صحابي وايي، چې رسول ﷺ مې په سر لاس راکېښود او راته يې وويل،چې کله دغه مقدسه ځمکه (فلسطین) جنګ کېږي، نو زلزلې به زیاتې شي؛

[ابو داؤد] .

